شیخ تقی الدین نبهانی

# تکتل (حزبي جوړښت)

د امت خپروني
کابل افغانستان

www.ht-afghanistan.org
info@ht-afghanistan.org

# د حزب التحریر له خپرونو څخه


لومړی عربي چاپ

۱۳۷۲هجري قمري – ۱۹۵۳مېلادي

څلورم عربي چاپ

۱۴۲۲هجري قمري – ۲۰۰۱مېلادي

څلورم پښتو چاپ

۱۴۳۴ هجري قمري – ۲۰۱۲ میلادي

امة خپروني

کابل - افغانستان

info@ht-afghanistan.org
www.ht-afghanistan.org

## له مطالعې وړاندې د پام وړ

دغه ستاسو په لاس کې کتاب، له اصلي نسخې – چې په عربي ژبه کې لیکل شوې – ژباړل شوی دی. له هغه ځایه چې ټول هغه څه چې د مؤلف موخه ده، د هغه له اصلي ژبې څخه پرته بشپړ نشي رسېدلای، نو د ژباړل شوي کتاب ستونزې او نیمګړتیاوې له پامه وغورځوی او د لا غوره دقت لپاره کولای شی د هغه اصلي نسخې ته مراجعه وکړی.

خو آیتونه د عثماني مصحف له معیار سره د سمون له مخې لیکل شوي دي او ژباړه یې په *مایل* لیک د اړوند سورت له آدرس سره په داسې حال کې چې احادیث په کلاسیک عربي لیک سره په **ډبل** لیک سره له اړوند آدرس سره لیکل شوي دي او همداراز په ځینو حالتونو کې له ځانګړو نښو څخه ګټه اخیستل شوې ده، لکه:

ﷻ – سبحانه و تعالی

ﷺ – صلی الله علیه وسلم

رضي الله عنهم – رضی الله عنهم

عليه السلام – علیه السلام

رضي الله عنه – رضی الله عنه

## بسم الله الرحمن الرحیم

له دیارلسمې هجري پېړۍ څخه وروسته چې له نولسمې مېلادي پېړۍ سره سمون خوري، د امت د بیدارۍ او پرمختګ لپاره بېلابېل حرکتونه را منځ ته شول. دا حرکتونه او خوځښتونه که څه هم بریالي نشول خو پر هغو کسانو یې ډېر اغېز وکړ چې له دوی څخه وروسته راغلل او نور خوځښتونه یې را وپنځول.

د دغه حرکتونو په اړه څېړونکو څېړنې وکړې، د دوی د ناکامۍ لاملونه یې د حزبي جوړښت له مخې په لاندې ډول بیان کړل:

١. دغه حرکتونه په هغه عامو او نا محدودو افکارو باندې ولاړ وو، چې یا لږ او یا هم په پوره توګه غیر شفاف وو، د دې نه روښوالي تر څنګ وضاحت، پاکي او صفایي هم په کې نه تر سترګو کېده.

٢. د افکارو د تنفیذ طریقه یې هم نه وه تعریف شوې، همدا راز د خپل سرو او غیرمستقیمو وسایلو په واسطه وړاندې تلل، چې البته دا وسایل هم غیر شفاف، مبهم او پوره روښانه نه وو.

٣. دا حرکات په داسې کسانو ولاړ وو، چې پوره پوهه او ښه اراده یې هم نه لرله او یوازې د فکري پرمختګ هیله، شوق او احساسات یې درلودل.

۴. د دې حرکتونو د مسوولینو تر منځ صحیح اړیکي نه وې موجودې. دوی یوازې له یوې کتلې سره د فعالیت د ترسره کولو لپاره تر بېلابېلو شعارونو، نومونو او کړنو لاندې سره یو ځای شوي وو.

له همدې امله دغه حرکتونه د دوی د انرژۍ او شوق تر استهلاک پورې فعال او له هغه وروسته له منځه لاړل. د دا ډول حرکتونو له منځه تلل یوه طبیعي چاره وه. وروسته نوو مؤسسینو نوي حرکتونه رامنځ ته کړل او عین پروسه بیا ترسره شوه. تر

دې چې د نويو حرکتونو شوق او انرژي هم همدارنګه له منځه تلله او وروسته يې هم همدا ډول دوام وکړ.

د دغه حرکتونو ناکامېدل يو طبيعي کار وو، ځکه چې دا حرکتونه په يوه صحيح، واضح او محدود فکر باندې نه وو ولاړ. له دې سره سره يې د خپلو افکارو د عملي کولو لپاره ښه او غوره طريقه نه درلوده. د پوهو کسانو نشتوالی او د دوی تر منځ د سمو اړيکو نشتوالی د دې حرکتونو د ناکامۍ لامل شول.

د دوی د فکرې او طريقې د ناسموالي لامل د يوه ښستيز فکر نشتوالی او ياهم د ښستيز فکر غلطي وه. له دغو حرکتونو څخه ځينې اسلامي وو او ځينې نور يې د نژاد پالنې خوځښتونه وو. د اسلامي حرکتونو مسوولينو خلک په عام او نا تعريف شوي ډول اسلام ته رابلل او هڅه يې کوله چې اسلام له خپلې خوښې سره سم تفسير کړي، ترڅو له حاکمې وضعې او وخت سره سمون ومومي او يا هم هغه قوانين چې له نورو نظامونو څخه را اخستل شوي وو اسلام ته له خپلې خوښې سره سم راوړل شي. په دې ترتيب سره دغه بدلونونو د غير اسلامي نظامونو اخيستنه او تنفيذ روا کولو او د نژاد پالنې حرکتونو يوازې د عربانو د فکري ترقۍ هڅه کوله.

دوی پرته له دې چې اسلام او مسلمانان په نظر کې ونيسي عرب يې د پرمختګ لپاره رابلل. دوی نژاد پاله الفاظ لکه عزت، کرامت، عرب، عربي، آزادي او نورکارول. سره له دې چې د دغه الفاظو مفهوم له حقيقي فکري ترقۍ سره هېڅ اړيکه نه درلوده. عربي نژاد پالونکو يوازې عربان فکري پرمختګ ته رابلل او ترکي نژاد پالو يوازې ترکان د يوه ترکي دولت جوړولو ته رابلل. دواړه عربي او ترکي نژاد پالې د ښکېلاک په واسطه رهبري کېدل. همدغو ښکيلاکګرو د بالکان خلک د نژادپالنې خوځښتونو ته وهڅول تر څو له اسلامي دولت (عثماني خلافت) څخه آزادي واخلي.

د اسلامي او نژاد پرستو عربي حرکتونو تر منځ لفظي شخړې په جريدو او مجلو کې رواني وې، دا چې له دغو حرکتونو څخه کوم يو پر بل غوره او د ملاتړ وړ دی: الجامعه العربيه (د عربو تړون) او که د الجامعه الاسلاميه (اسلامي تړون)؟

ډېر وخت تېر شو او د دې خوځښتونو ډېرې هڅې پرته له کومې پايلې څخه پای ته ورسېدې، ځکه چې نوموړي دواړه حرکتونه په اصل کې د ښکېلاکي پلان برخه وو، ترڅو د مسلمانانو پام له خلافت او اسلامي دولت څخه واړوي، په دې ترتيب سره نه يوازې دا چې دا پروګرامونه بې له کومې پايلې پای ته ورسېدل، بلکې د دې تر څنګ يې د اسلامي دولت انځور د مسلمانانو له افکارو او لرليد څخه ليرې کړ.

په ځينو هېوادونو کې د اسلامي او نژادي حرکتونو تر څنګ د تيري کوونکو او ښکېلاکي کفارو په وړاندې د عکس العمل په ډول د وطن پالنې حرکتونه رامنځ ته شول، ځکه کفارو د اسلامي دولت ځينې برخې تر خپلې ولکې لاندې راوستې وې. دغه ټول د وطن پالنې خوځښتونه په انسانانو باندې د پانګوالۍ د نظام، سياسي او اقتصادي ظلم د پلي کولو پايله وه.

سره د دې چې دا خوځښتونه د کفارو د ظلم په وړاندې را منځ ته شوي وو، چې ځينې له دوی څخه د اسلامي احساساتو تر اغېز لاندې وو او يو شمېر نور د ښکېلاکي پلانونو په ترڅ کې د وطن پالنې تر احساساتو لاندې راغلي وو، چې په پايله کې د وطن پالنې دا خوځښت د دې لامل شو چې دا اسلامي ګوندونه په خپل منځ کې په مبارزه سره تاوده وساتي. د دوی د دې عمل په واسطه د کفارو ريښې په اسلامي هېوادونو کې لا ټينګې او محکمې شوې او د خپلو مزدورانو په واسطه يې وکولای شول چې خپل سياسي او فرهنګي واک پر اسلامي امت باندې ومني.

موږ په دې باور يو چې د فکري پرمختګ لپاره حقيقي فلسفه يوه ايډيولوژي ده، چې فکره او طريقه سره يو ځای کوي چې نوموړې ايډيولوژي اسلامي ايډيولوژي ده. ځکه چې اسلام هغه عقيده ده چې له هغه څخه د امت او دولت د ټولو برخو لپاره يو

بشپړ نظام چې د دوی د ژوند ټولې ستونزې په هغه کې حل کېږي، ريښنه نيسي. سره له دې چې دا نظام به يو نړيوال نظام وي، د تطبيق طريقه يې په لومړيو کې نړيواله نه ده، خو دا يو ضروري کار دی چې د نړۍ په سطح بايد تبليغ وشي، اما د کار وخت او را منځ ته کول يې په يوه يا څو اسلامي هېوادونو کې محدود شوي دي. ترڅو په هغه ځای کې تمرکز پيدا کړي او اسلامي دولت تاسيس شي. وروسته همدغه دولت په طبيعي ډول وده کوي چې لومړی ټول اسلامي هېوادونه نيسي وروسته اسلامي دولت پاتې هېوادونه اسلام ته دعوتوي، په دې دليل چې دا د اسلامي دولت دنده ده، ترڅو د اسلام پيغام په دايمي او نړيوال ډول بشريت ته ورسوي.

ټوله نړۍ د اسلامي دعوت لپاره ورڼ ده، د دعوت پيل بايد له اسلامي هېوادونو څخه وشي، ځکه چې د دغه هېوادونو اوسېدونکي مسلمانان دي. عربي هېوادونو ته بايد په دعوت کې لومړيتوب ورکړل شي، ځکه چې د دوی ژبه عربي ده او عربي ژبه د اسلامي ثقافت له بنسټيزو عناصرو څخه شمېرل کېږي. سره د دې مورږ بايد د عربي ژبې قدرت له اسلامي ځواک سره يو ځای کړو، ځکه چې دواړه د اغېز، پراختيا او خپراوي وړتيا لري؛ نو ځکه دا يو طبيعي امر دی چې د اسلامي دولت بنسټ په عربي هېوادونو کې کېښودل شي. وروسته به ټول اسلامي هېوادونه په خپله غېږه کې را ونغاړي، همدا راز د دعوت پيل هم بايد حتما له عربي هېوادونو څخه وشي او دا هم ضروري امر دی چې اسلامي دعوت نورو اسلامي هېوادونو ته خپور شي. دا چې دعوت به له عربي هېوادونو څخه پيلېږي د دې معنا نه لري چې په نورو اسلامي هېوادونو کې به د خلافت تر تشکيل پورې هڅې نه کېږي. په دې ترتيب په عربي نړۍ کې د اسلامي دولت د جوړولو لپاره فعاليت کېږي. په وروستي پړاو کې ګاونډي هېوادونه په اسلامي دولت کې ګډون کوي، په داسې شان سره چې دا په نظر کې نه نيول کېږي دا عربي او که غير عربي هېواد دی.

لکه څنګه چې مخکې یادونه وشوه د فکري پرمختګ حقیقي فلسفه ایډیولوژي ده؛ چې په هغه کې فکرې او طریقې ته تړاو او یووالی ورکړل شوی دی او هر حزبي جوړښت چې فکري پرمختګ یې له اصلي موخو څخه وي، باید دواړه فکره او طریقه پوره وپېژني.

د ایډیولوژۍ له توضیح او تشریح څخه وروسته کولای شو حزب په آسانۍ سره د دې ایډیولوژۍ پر بنسټ را منځ ته کړو. د دې ایډیولوژۍ له پوره بیان څخه وروسته دا یو طبیعي امر دی کوم حزب چې پر دې فهم باندې ولاړ وي هغه یو اغېزمن، انشايي او ارتقايي حزب دی، چې ټولنه یې قبلوي او له هغه څخه ملاتړ کوي. په داسې شان چې ټولنه هم له حزب سره یو ځای بار اوچتولو ته تیاره وي. ځکه چې دا حزب په مفکوره پوهېږي، د دې مفکورې د عملي کولو په طریقه پوهېږي او د امت اصلي قضیه یې درک کړې ده.

یوازې د حزبي جوړښت په څرنګوالي باندې پوهه مونږ سم فکري پرمختګ ته نشي رسولای. بلکې هغه کسان چې د یوه حزب د جوړښت لپاره تیار دي، هغه باید صالحان وي او کومه اړیکه چې د دوی تر منځ موجوده ده هغه باید یوه سمه، ګټه لرونکې او ښه اړیکه وي. وروسته له دې چې له هغه سره تفاعل وشي د یوه شخص په اړه چې ښایي په حزب کې غړیتوب ورکړل شي تصمیم نیول کېږي؛ ځکه چې د حزبي غړو تر منځ اړیکه په عقیده او حزبي ثقافت باندې ولاړه ده. د یوه فرد جذبول په طبیعي ډول ترسره کېږي؛ په دې ترتیب سره د یوه فرد د حزبي کېدلو صلاحیت حزبي هیات نه لري بلکې په ارتباطي ډول تصمیم نیول کېږي. ځکه د یوه حزب د غړو تر منځ اړیکې له عقیدې او حزبي ثقافت څخه جوړې شوې دي، چې له عقیدې څخه سرچینه اخلي.

که مونږ د مخکنۍ پېړۍ د حرکتونو تشکیلاتو ته پام وکړو وینو او پوهېږو چې د ناکامیو لامل یې په ناسم ډول د حزب جوړول وو. ځکه چې دوی خپله طریقه، فکره

او د حزبي کار څرنګوالی په سمه توګه نه وو درک کړی؛ بلکې یوازې په ټولنیز ډول د حزب تر نامه لاندې سره را ټول شوي وو. دا مسئله هغه وخت واضح کېدلی شي چې د ټولنې واقعیت او د خلکو تصور له هغه څخه درک شي.

او مونږ هغه په دوو پړاوونو وېشو (د عثماني دولت له ړنګېدو څخه د مخه او د عثماني دولت له ړنګېدو څخه وروسته) مسلمانان له لومړۍ نړیوالې جګړې څخه مخکې په دې پوهېدل چې اسلامي دولت شتون لري. دغه دولت سره له دې چې کمزوری وو او د هغو په اړه د نظر اختلاف موجود وو. خو بیا هم د فکر او پام وړ وو. سره د دې چې اعراب په دې اند وو چې دولت د دوی حقونو ته پام نه کوي او په دوی ظلم کوي. په ټول عقلي او قلبي توان سره په دې هڅه کې وو چې دولت اصلاح کړي، ځکه چې تر دې مهاله هم دوی اسلامي دولت خپل دولت باله؛ اما دوی د فکري پرمختګ په حقیقي فهم او صحیح طریقه باندې نه پوهېدل او د یوه حزب په جوړولو ونه توانېدل. کولای شو ووایو چې ډېرو مسلمانانو همدا باور درلود.

اما په دې عصر کې د پردیو ثقافت اسلامي هېوادونو ته ننوت، د دې کار په پایله کې ښکېلاکګر په دې وتوانېدل، چې یو شمېر مسلمانان په دولت کې د ننه د بېلتون غوښتونکو حرکتونو لپاره جذب کړي، په ځانګړي توګه؛ استعمارګرو وکړای شول چې یو شمېر عربان خپل ځان ته را واړوي او له عثماني دولت څخه یې د آزادي اخیستلو په موخه په پاریس کې را ټول کړي. د پردیو افکار، اروپایي ثقافت او د ملیت او وطن پالنې احساسات چې د ښکېلاکګرو په واسطه ورښودل شوي وو، د دې لپاره قوي اساس وو چې عربان سره یو ځای کړي، عقلي اړیکې او احساسات یې هم سره یو ځای شوي وو، دوی یوه واحد منطق چې عبارت د عربانو د قوم له خپلواکۍ څخه وو، د خپل هدف لور ته لارښونه کول. ځکه چې عثماني دولت د دوی له حقونو او غوښتنو سره بې پروایي کوله، په دوی یې ظلم کولو، د دوی حقوق یې تر پښو لاندې کول. دغه واحد هدف د دې لامل شو چې دروغجن حزبونه را منځ ته

کړي، چې په پایله کې د اعرابو د خوځښت او د مسلمانانو په هېوادونو، په ځانګړې توګه عربي هېوادونو کې د کفارو استعمارګرو نفوذ ته لاره اواره شوه. د دغه حزبونهو دندې په دې ټکي چې د خپلو زحمتونو غنیمتونه یې په خپلو منځونو کې وویشل پای ته ورسېدې. په داسې شان سره چې په ځینو اسلامي هېوادونو کې د ښکېلاکګرو غلامان په کار وګومارل شول او د امت د ژوند دا پړاو د داسې دردناکو پایلو لامل شو چې تر اوسه پورې دوام لري.

د اسلامي دولت له ړنګېدو وروسته ښکېلاکګرو د مسلمانو هېوادونو واګې په خپلو لاسونو کې واخیستې آن په عربي هېوادونو باندې یې نېغ په نېغه حکومت کاوه او په نورو اسلامي هېوادونو کې یې نفوذ پیدا کاوه. په دې ترتیب سره یې عربي هېوادونه د خپلو مکارو لارو چارو او وسایلو په واسطه ونیول او خپل مرکزونه یې وټاکل. د دوی دغه مکار وسایل له، پیسو، غلامان، نوکران او همدا راز د پردیو او ښکېلاکګرو له ثقافت څخه عبارت وو.

د پردیو دغه ثقافت د کفري او ښکېلاکي افکارو د تمرکز لپاره ډېر اغېزمن وو؛ چې د پرمختګ په لاره کې خنډ شي په پایله کې یې ټول ټولنیز او حزبي حرکات ناکام کړل. ثقافت د انسانانو په فکر قوي اغېز لري چې د انسانانو ژوند ته لوری ورکوي. د کفارو او ښکېلاکګرو د ثقافت او تعلیم منهج په ثابته فلسفه ولاړ دی چې؛ د دنیا او ژوند په اړه د دوی د نظر څرګنداوی کوي؛ یعنې دوی روح له مادې او دین له دولت څخه بېلوي.

دوی زموږ لپاره خپل شخصیت یوازینی ثقافتي بنسټ جوړ کړی دی. سره د دې خپل حضارت (کولتور)، مفاهیم، خلک، تاریخ او د خپل ژوند طریقه یې د موږ د فکري بنسټ په ډول را منځ ته کړه. دوی په دې هم بسنه ونه کړه او په دې هڅه کې شول چې خپله هغه استعماري څېره بدله کړي چې زموږ له حقایقو او مفاهیمو څخه لیرې وه او خپل ځانونه یې موږ ته د نمونې په توګه وړاندې کړل، چې موږ باید له

دوی څخه تقلید کړی وای او د دوی له امر څخه مو سرغړونه نه وای کړې. دوی دغه کار ته په ډېرو خبیثو وسایلو سره د خپلې اصلي څېرې په پټولو وتوانېدل.

وروسته دوی د تعلیمي پروګرامونو په بطن کې ور د ننه شول ترڅو د دوی له عام منهج سره هېڅ ټکر ونه لري، چې په دې ترڅ کې مسلمانان په یوه فاسد ثقافت سره و روزل شول. موږ ته دا را وښودل شول چې نور څنګه فکر کوي؛ په دې واسطه موږ له دې څخه بې برخې شوو ترڅو په دې سوچ وکړو چې موږ څنګه فکر کوو. دا له دې امله وشول چې زموږ افکارو زموږ له محیط، شخصیت او تاریخ سره هېڅ اړیکه نه درلوده او نه یې زموږ له عقیدې څخه سرچینه اخیسته. په دې ترتیب سره موږ د روڼ اندو تر نامه لاندې له خپلې ټولنې څخه بېل شوو او له خپل چاپېریال او د هغه له اړتیاوو څخه لیرې پاتې شوو. په پایله کې د روڼ اندو احساسات د دوی له افکارو او عقل څخه بېل شول، په همدې ترتیب روڼ اندي د امت له احساساتو او ادراک څخه بېل شول. طبعا دا ډول فکر نه شي کولای چې په صحیح ډول د امت اړتیاوې او حالت درک او وڅېړي. همدا راز نه شي کولای چې د فکري پرمختګ طریقه روښانه کړي. ځکه چې د دوی افکار له احساساتو څخه بېل دي او آن تر دې چې د دوی افکار له احساساتو څخه خالي دي. همدا راز د پردیو افکارو پیروان داسې اشخاص وو چې اسلامي احساسات یې درلودل. دا یو طبیعي کار دی چې دا ډول افکار نه شي کولای موږ ته د سمو جوړښتونو د را منځ ته کولو لپاره چې په صحیح فهم او پوهه ولاړ وي لارښوونه وکړي. د پردیو د ثقافت اغېزه یوازې په روڼ اندو پورې نه ونه تړل شوه، بلکې د ټولنې افکار په ټولیز ډول د هغوی له احساساتو څخه بېل کړل شول؛ چې پایله یې د ټولنې د ستونزو مبهم کول وو.

په دې اساس د فکري پرمختګ ستونزې چې په صحیح حزبي تشکیل ولاړې وې د لومړۍ نړیوالې جګړې په پرتله ډېرې شوې؛ ځکه هغه مهال د امت او حزب ستونزې یوازې د امت او ټولنې ترقي وه ترڅو له انحطاط څخه را ووځي. خو نن ورځ

ستونزه د روڼ اندو د افکارو او احساساتو همغږي کول دي. له دې سره د ټولنې د افرادو تر منځ د تناسق او نظم رامنځ ته کول هم اړین دي. په ځانګړي توګه، د روڼ اندو او ټولنې چې په یو ځایي ډول باید د دوی د افکارو او احساساتو د یووالي لپاره ترسره شي. ځکه چې دغه روڼ اندي د پردیو پر افکارو چې له واقعیت څخه ډېر لیرې او له احساساتو څخه هم بېل وو، ډېر مین شوي وو. چې د دوی له ټولنې څخه د روڼ اندو د بېلتون لامل شول، دوی خپلې ټولنې ته په سپکه سترګه کتل او ورو ورو یې له خپلې ټولنې څخه لیرې کېدل او د ټولنې په وړاندې یې چلند سوړ او بې احساسه شو، له دې سره سره یې له پردیو سره انس او مینه پیدا کړه. دوی پردیو ته درناوی درلود، دوی ته یې ځانونه ور نژدې کول چې د دوی ډېرو کسانو همدا کار کاوه، سره له دې چې ښکېلاکګر وو.

په دې ترتیب سره د داسې روڼ اندو لپاره ناشونې وه چې له خپل مملکت څخه صحیح تصور ولري، بې له دې چې له پردیو څخه تقلید وکړي. ځکه چې هغوی د هېواد وضعه څرنګه تحلیل کړې ده، بې له دې چې د اوضاع حقیقت درک کړي. هر کله به یې چې تحصیل کاوه روڼ اندو به د پرمختګ په اړه خبرې کولې. د دوی موخه د امت ترقي نه وه، بلکې یوازې له پردیو څخه کورکورانه تقلید وو. ځکه د دغه روڼ اندو احساسات د دوی د ایډیولوژۍ په واسطه نه وو را تحریک شوي بلکې؛ د داسې انګېزو لکه هېواد او ولس (قوم)، چې غلطې انګېزې وې، په حرکت راغلي وو. په پای کې که دوی د وطن په انګېزه خوځښت کوي، دوی هغه په صحیح ډول نه ترسره کوي او ځان په پوره توګه د خپلو خلکو لپاره نه قربانوي. په پایله کې که دوی د خپل وطن په انګېزه باندې خوځښت وکړي، ځکه چې خپله شاوخوا اوضاع یې په صحیح او عقلي ډول نه شوای درک کولای او د خپلو خلکو غوښتنې یې عقلا نه وې احساس کړې.

که موږ فرض کړو چې دوی یو حرکت د ترقي غوښتلو لپاره په لاره واچوي، دا به یوازې د دوی د شخصي غوښتنو په مقابل کې عکس العمل او یا هم د نورو له انقلابونو څخه تقلید وي. له همدې امله د دا ډول انقلابونو عمر ډېر لنډ وي. دا عمل هغه وخت شونی دی چې د مخالفت لامل له منځه لاړ شي، نفسي غوښتنې یې پوره شي، د دوی له شخصي ګټو سره ټکر پیدا شي او یا هم دوی ته تاوان ورسېږي.

له دا ډول افرادو څخه یو صحیح تشکیل نه شي جوړېدای. مخکې له دې چې د دوی د افکارو او احساساتو تر منځ یووالی را نه شي؛ په داسې شان سره چې هغوی ته باید یو مبدایي ثقافت (اسلامي ثقافت) ور وښودل شي، د دغه شاګرد درملنه د اسلامي ثقافت په واسطه هغه وخت کېدای شي چې د ده عقل له سره نوی تشکیل شي. په فرد کې د افکارو او احساساتو له یووالي وروسته زموږ دنده د فرد او ټولنې تر منځ یووالی او سمون دی. که د پردیو د ثقافت اغېز نه وای د فکري ترقۍ په برخه کې به زموږ زحمتونه ډېر لږ وای.

له دې امله امکان نه لري چې په ټولنه کې یو ښه حزبي جوړښت د پردیو له ثقافت سره یو ځای رامنځ ته شي او دا هم امکان نه لري چې د داسې تشکیل بنسټ دې کېښودل شي.

ښکېلاکګرو یوازې د خپل ثقافت په تعمیل بسنه ونه کړه، بلکې دوی اسلامي فضا هم په خپلو افکارو، سیاسي اندونو او فلسفي نظریو مسمومه کړه، چې په پایله کې د مسلمانانو صحیح اندونه هم فاسد شول. د مسلمانانو افکار د ژوند په ټولو برخو کې نامنظم شول چې له دې سره د دوی د طبیعي پوهاوي مرکز له منځه لاړ.

ښکېلاکګرو د مسلمانانو هر شعوري قدم د متزلزلو حرکتونو لور ته بېولو او دغه حرکات کولای شو چې له یوه داسې زخمي حیوان سره ورته وبولو، چې ښایي په چوپتیا، نا هیلیتوب او پوره تسلیمۍ سره له منځه لاړ شي. له همدې امله دغه فلج شوي حرکات په رکود، ناهیلیتوب او ماتې سره ختم شول.

په دې ترتیب پردیو له موقع څخه ګټه پورته کړه؛ خپل شخصیت یې د کلتور په مرکز کې موږ ته وړاندې کړ او په سیاسي برخو کې یې اداره په خپل لاس کې واخیسته. دوی د سیاستمدارانو او سیاسي متخصصینو حواس له پردیو څخه کمک غوښتلو او په هغوی باندې په باور کولو باندې ودرول، په همدې دلیل ډېری حرکات په غیر شعوري ډول له پردیو څخه د مرستې غوښتلو په لټه کې شول. هغه کسان چې له پردیو څخه د مرسته غوښتلو په هڅه کې وو؛ دې ته یې پام نه وو چې له پردیو څخه د مرستو رواجول له هر جنسه چې وي د اسلامي امت په افکارو کې د پردیو د زهرو ترزیقول دي، که څه هم دا کار په نیک نیت ترسره شي بیا هم د اسلامي امت په وړاندې یو خیانت دی او دوی په دې نه پوهېدل چې د خپلو قضیو اړیکه ورکول د دوی ارزښتونو ته یو سیاسي انتحار دی، په دې ترتیب هر حرکت چې افکار یې د پردیو په باورونو مسموم شوي وي؛ نه شي کولای بریالی شي.

سره له دې ښکېلاکګرو ټولنه د وطن پالنې، ملیت پالنې، سوسیالستۍ او په سیمه ییزو افکارو مسمومه کړه او دغه مفاهیم یې د بېړني عمل په څېر د فکري ترقۍ په محور کې ځای پر ځای کړل. دوی ټولنه په دې فکرونو چې ((د اسلامي دولت جوړول او د اسلامي هېوادونو یووالی ناممکن دی)) نوره هم مسمومه کړه. له مدني، نژادي او ژبنیو توپیرونو سره سره د مسلمانانو یووالی یو طبیعي امر دی؛ چې د اسلامي عقیدې په واسطه یې پیوند خوړلی او په پایله کې اسلامي نظام له هغه څخه سرچینه اخیستې ده خو له دغو ټولو سره سره ښکېلاکګرو زموږ ټولنه په ناسمو سیاسي افکارو مسمومه کړه، د دوی په وینا: (خذ و طالب) واخله او هڅه پسې وکړه، (الامه مصدر السلطات) خلک د قدرت مصدر دي، (السیاده لشعب) حاکمیت د خلکو دی، (الدین لله والوطن للجمیع) دین د خدای دی او وطن د ټولو،

(توحدنا الآلام و الآمال) موږ خپلو دردونو او هیلو سره یو ځای کړي یو، (الوطن فوق الجمیع) وطن تر هرڅه پورته دی، (العزة للوطن) وطن د باعزته وي او نور.

سره له دې یې ټولنه په خپلو وروسته پاتې اندونو باندې مسمومه کړه. لکه: (إننا نأخذ نظامنا من واقعنا) موږ خپل نظام له خپل واقعیت څخه اخلو، (الرضا بالأمر الواقع) په اوسنیو شرایطو باندې رضایت، (یجب أن نکون واقعیین) موږ باید واقعیت لیدونکي و اوسو او په دې ډول نور الفاظ. (حب الوطن من الإیمان) یعنې د وطن مینه د ایمان جز ده، ژباړن.

د دغه مسموماتو په پایله کې اسلامي ټولنه، چې په هغې کې عربي هېوادونو هم ګډون درلود په داسې شکل جوړه شوه چې د یوه صحیح حرکت پاڅون په کې ناشونی شو. په دې ترتیب سره د دې حزبونو ناکامي چې یوازې حزبي نوم یې درلود، یو عجیب کار نه و؛ ځکه چې د دوی پاڅون په کوم ژور فکر باندې نه و ولاړ، چې دوی د یوه منظم حزب جوړښت ته ورسوي، بلکې بې بنسټه وو. کوم حزبونه چې په اسلامي نړۍ کې په ځانګړې توګه کومو حزبونو چې په عربي نړۍ کې پاڅونونه کړي وو یو طبیعي امر دی، ځکه چې په ایډیولوژۍ باندې نه وو ولاړ. که چېرې دغه حزبونه ډېر په دقیقه توګه مطالعه کړو، دې ته مو پام کېږي چې د دوی ځینې پاڅونونه یوازې د ځینو ناڅاپو پېښنو په وړاندې عکس العملونه وو، چې د داسې حزبونو موجودیت ورته اړین و. خو د هماغه حالاتو او پېښنو په له منځه تللو سره دا حزبونه هم د عمل له ډګر څخه ورک او یا هم ضعیف شول چې وروسته ورو ورو له منځه لاړل.

ځینې نور حزبونه د خلکو د شخصي ملګرو په ملګرتیاوو سره جوړ شوي وو، نو د دغه تشکیلاتو بنسټ چې ملګرتیا وه، کله به چې د حزب غړي په شخصي کارونو لګیا شول د حرکتونو کارونه به په ټپه درېدل. د دا ډول ډېرو حرکتونو پاڅون په

شخصي او لنډمهاله ګټو باندې ولاړ وو نو ځکه به چې؛ دا ډول خلکو حرکتونه جوړول په ایډیولوژیکي او حزبي اړیکو باندې به نه وو ولاړ. نه یوازې د دوی شتون له ګټو څخه خالي وو بلکې په رښتیا هم دوی د امت لپاره مضر واقع کېدل. د دوی شتون د صحیح حزبونو د مشرۍ مخه نیوله او یا به یې هم وروسته کول، دوی د عامو خلکو تر منځ د نا هیلیتوب او شک تخم کرلو، چې په ټولیزه پرېکړه سره خلک په ټولو حرکتونو باندې آن که چیرې سم حزبونه هم وو شکمن شول. سره د دې یې د انسانانو تر منځ شخصي ستونزې او کورنۍ جګړې رامنځ ته کړې او په خپل اسلوب سره یې نورو ته د تذبذب او په خپل محور کې د څرخېدو لارې چارې وښودلې، په بل عبارت دوی د عامو خلکو طبیعت فاسد کړ او په هغو صحیح حرکتونو یې چې له خلکو څخه په طبیعي ډول راپورته شوي وو، هم دروند بار کېښود.

د اسلامي حرکتونو تر څنګ نژادي، وطن پال او کمونستي حرکتونه هم رامنځ ته شول چې؛ د ماده پالنې په دیالیکتیکي تیورۍ باندې ولاړ و. دوی په هغو حرکتونو پورې تړاو درلود چې په پخواني شوروي اتحاد کې یې فعالیت کاوه. د دوی طریقه د موجوده نظامونو ړنګول او د یوې ګډ وډۍ رامنځ ته کول وو. نورو هېوادونو ته د کمونیستي نظام ور پېژندل، د شرقي بلاک په ګټه د غربي ښکېلاکي نظام ړنګول، د دوی له دندو څخه وو. د دغه حزبونو مسؤلینو د شرقي بلاک د مزدورانو په څېر کار او دنده تر سره کوله. دې حرکتونو د امت د ستونزو د حل لپاره هېڅ ځواب نه درلود او نه یې کوم مثبت اغېز درلود. د دوی ناکامي یوه طبیعي چاره وه ځکه چې؛ د دوی افکار د انساني طبیعت ضد وو او د اسلامي عقیدې سره یې هېڅ سمون نه درلود. دغه حرکتونو د عامه وطن پالنې له احساساتو څخه ګټه پورته کړه، دې ډول حرکتونو نه یوازې دا چې ستونزه یې حل نه کړه بلکې د امت ستونزې یې نورې هم زیاتې کړې.

ځینې نور حزبي تشکیلات د ټولنو (انجمنونو) پر بنسټ ولاړ و، په دې ترتیب سره دوی له سیمه ییزو او محلي موخو سره په خیریه کارونو کې بوخت شول او دوی هم د ډلو د غوښتنو تر اغېزې لاندې راغلل، ښکېلاکي سیاست له دوی څخه ملاتړ وښود او د دوی هڅې یې لا دود کړې، ترڅو د دوی د هڅو پایلې خلک وګوري. د دغه تشکیلاتو ډېره برخه د ښوونې او روزنې، روغتونونو او خیریه کارونو په سرته رسولو کې بوخت و، د دوی په منځ کې سیاسي حزبونه ډېر لږ لیدل کېدل.

هر کله چې موږ په دقیق ډول د دغو ټولنو (انجمنونو) لاسته راوړنو ته ځیر شو ښکاري چې دوی امت ته هېڅ ګټه نه ده رسولې، او د اسلامي امت د فکري ترقۍ په لاره کې یې هېڅ مرسته نه ده کړې. هغه زیان چې د دوی له خوا امت ته ورسېد په لومړي سر کې نه معلومېده، یوازې هغو کسانو چې په غور یې دغه مسالې ته کتنه او په هغه باندې یې څېړنه وکړه او یا د دوی په اړه ژور فکر وکړي، د دغه کارونو زیان درک کولای شي. له لږ ګټې څخه پرته د دغه ټولنو (انجمنونو) شتون د اسلامي امت پر جسم باندې قوي ضربه وارده کړه.

هغه څه چې امت ته فکري ترقي ورکوي عبارت دي له: د اسلامي افکارو شتون، د ځینو احکامو عملي کول او د داسې ثبات لرونکو اسلامي احساساتو را منځ ته کول چې د اسلام تر اغېزې لاندې وي. اسلامي امت د ښېګڼې لپاره د عاطفې درلودونکی دی او په طبیعي ډول د یوې ډلې د جوړولو خاصیت لري، ځکه چې د اسلام روحیه په ټولنیز ډول څرګندیږي. هغه مهال به چې اسلامي امت یوازې ځان ته پاتې کېده، ترڅو په طبیعي میل سره داسې یو جوړښت رامنځ ته کړي چې د امت د ترقۍ په لاره کې د یوه خوځښت په توګه کار وکړي، کېدای شوای او ممکنه وه. په هر صورت د دې ټولنو (انجمنونو) فعالیت چې ډېرو یې خیریه کارونه کول د امت د هغه شوق چې موخه چې فکري ترقي وه؛ مخه ونیوه.

کله چې د دا ډول حرکتونو غړي د خپلو خیریه کارونو پایلې وګوري لکه د ښوونځی، روغتون او جومات جوړونه، نو دوی د یو ډول آرامتیا، رضایت او خوښۍ احساس کوي.که دا ډول ډلې نه وای، د اسلامي امت ټولنیزه روحیه د یوه داسې حزب د جوړولو لور ته تلله چې صحیح جوړښت به یې درلود، هغه دا چې دوی به له فکري پرمختګ څخه پیل کاوه.

له دغه ښونیزو، روزنیزو او خیریه جوړښتونو سره سره بله نوې ډله هم را ښکاره شوه، چې د امت ترقي یې په اخلاقي موضوعاتو کې لټوله او غوښتل یې چې امت د اخلاقي وعظ په واسطه په معنوي ډول باوري کړي. دوی په خپلو خبرو، درسونو او خپرونو کې همېشه د اخلاقو په اړه بحثونه کول او په دې ګومان وو چې؛ اخلاق د امت لپاره د فکري ترقۍ بنسټ دی.

دغه ډلو خپلو موخو ته د رسېدو په لار کې ډېرې پیسې او سخت زحمتونه و ایستل اما له هغو څخه یې کومه مهمه پایله ترلاسه نه کړه. تکراري او کلیشه یي خطابې؛ چې یوازې د فصاحت او بلاغت لپاره وې، د امت د احساساتو لپاره د یوې خدمتي مجرا په ډول وکارول شوې. د دغه ډلو جوړښت د قران شریف له یوه آیت شریف څخه د ناسم مفهوم په اخیستلو سره را منځ ته شو، هغه دا چې الله ﷻ حضرت محمد ﷺ ته خطاب کړی:

وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ ﴿٤﴾

*"او ته د لوړو اخلاقو څښتن یې"* القلم، ۴

په داسې حال کې بې له دې چې په کې ټولې ټولنې ته خطاب شوی وي دا د رسول الله ﷺ شخصي توصیف دی او همدا راز دوی له لاندې حدیث شریف څخه هم ناسم مطلب اخیستی، حضرت محمد ﷺ فرمایي:

«إنَّ اللّهَ بَعَثَنِي لِاِتَمِمَ مَكَارِمَ الأخلاَق»

*"یقیناً زه د دې لپاره مبعوث شوی یم چې اخلاقي معیارونه بشپړ کړم"*

دا باید په وضاحت سره روښانه شي چې دا احادیث او دې ته ورته نور حدیثونه د ټولنې د ځانګړتیا لپاره نه بلکې، د فرد د ځانګړتیاوو لپاره دي. سره له دې دا ډول ډلې د ناسمو اشعارو تر اغېز لاندې رامنځ ته شوې.

**( و انما الأمم الاخلاق ما بقیت فإن هم ذهبت أخلاقهم ذهبوا )**

خلک په اخلاقو ژوندي دي

که له هغو څخه خالي شي، نور به شتون و نه لري

دغو ډلو دې ته پام ونه کړ چې د امت د جوړښت اساس اخلاق نه دي، بلکې عقیده ده چې دوی منلې اوهغه افکار دي چې له ځان سره یې نورو ته لېږدوي او هغه نظام دی چې په ټولنه کې پلی کېږي. دا په دې دلیل داسې وو چې دغو ډلو د ټولنې واقعي تعریف نه پېژانده او په دې فکر وو چې ټولنه یوازې له یو ډول خلکو څخه جوړه شوې ده او بس. په داسې حال کې چې ټولنه د انسانو له مجموعې، افکارو، احساساتو او نظام څخه عبارت ده؛ نه د هغه شخصیتونو له انحطاط څخه چې په یوه ټولنه کې ژوند کوي.نو په پایله کې د ټولنې د اصلاح لپاره باید د ټولنې افکار، احساسات او هغه نظام چې په دوی تطبیق کېږي اصلاح شي.

د دې مسالې ناسمې پوهېدنې له هغه مفکورې څخه سرچینه اخستې وه چې ویل به یې د افرادو سرغړوای د ټولنې د وروسته پاتې والي لامل کېږي. دې نظریې د ټولنیزو اصلاح غوښتونکو او اخلاقي علماوو په ذهن کې ځای نیولی ؤ. دوی په دې باور ؤ چې د خلکو جوړول او له منځه وړل په اخلاقو پورې تړاو لري.

په دې ترتیب سره یو انسان د قوي، مستقیمو، اغېزمنو، باوري او صالحو اخلاقو په واسطه اصلاح غوښتونکی کېږي او دوی د بدو اخلاقو پر خلاف انسان کمزوری، تنبل، بې ګټې او داسې یو انسان چې د هېڅ خیر تمه نه ترې کېږي جوړاوه؛ ده به په ژوند کې هېڅ موخه نه درلوده، یوازې خپل شهوتونه به یې مړول او خپلې

غوښتنې به يې پوره کولې. دغه ډلې په دې نظر وې چې د افرادو په اصلاح سره ټولنه هم اصلاح کېږي او له همدې امله د امت د پرمختګ او اصلاح لپاره به له اخلاقي لارې ځخه وړاندې تلل.

د دغه ډلو له تقصير او ګناه سره سره چې په اخلاقي قاعده باندې ولاړ وو؛ تر اوسه ډېر شمېر کسان په دې باور دي چې اخلاق بايد د اصلاح اساس وي او په پايله کې دوی کولای شي له دې لارې په ټولنه کې هم اصلاح راولي. په دې بايد ټينګار وشي، چې د يوه فرد د بدلون وسايل د يوې ټولنې د بدلون له وسايلو سره توپير لري، سره له دې چې افراد د ټولنې يوه برخه بلل کېږي. د ټولنې فساد د احساساتو له فساد، د عقلي او روحاني فساد او له هغو ناسمو مفاهيمو ځخه سرچينه اخلي چې په ټولنه کې شتون لري. په بل عبارت دا ټول د عام رواج او عرف له فساد ځخه سرچينه اخلي او نه شي کولای چې ټولنه اصلاح کړي، تر څو چې عام عرف مو نه وي اصلاح کړی؛ اصلاح نه را منځ ته کېږي. عام عرف تر هغه نه اصلاح کېږي چې ترڅو مو د ټولنې احساسات نه وي بدل کړي.

د سالمې، معنوي او فکري فضا شتون چې له روحي برخې سره تړاو ولري او د دولت له لوري د نظام له تطبيق پرته دا ډول اصلاح نه شي رامنځ ته کېدای او يا دا چې اسلامي فضا را منځ ته نه شي او د ډېرو خلکو ناسم مفاهيم اصلاح نه شي، ټولنه نه اصلاح کېږي.

د ټولنې اصلاح د دا ډول سازمانونو او جوړښتونو په واسطه نه شي ترسره کېدای او نه هم د اخلاقو په واسطه دغه موخې ته رسېدای شو. وعظ او ارشاد هم د يوه جوړښت بنسټ نه شي جوړولای، ټول هغه جوړښتونه چې د ټولنو په ځېر فعاليت کوي، امت فکري ترقۍ او پرمختګ ته نه شي رسولای.

د پورتنيو ډلو تر څنګ دې ته ورته نورو ډلو هم قدعلم وکړ، چې په کومه ځانګړې ايډيولوژۍ باندې نه بلکې تش په نامه سره په حزبي بنسټ ولاړې وې، له

همدې امله له هماغه لومړيو څخه په ناکامۍ باندې محکومې شوې او د وخت په تېرېدو له منځه ولاړې. د دوی تر منځ سمه اړيکه نه وه موجوده او له سمې پوهې څخه برخمنې نه وې، د دې ډلو ناکامۍ د دوی د غړو په پرتله هېڅ د مخنيوي وړ نه وې. ځکه چې دغه ډلې د صحيح افکارو او طريقې درلودونکې نه وې او د خپلو غړو د ټاکلو لپاره يې د دوی وړتياوې په نظر کې نه وې نيولې، سره له دې د دوی جوړښتونه د ټولنيز مقام پر اساس ولاړ وو او د دوی غړيتوب يې په داسې حرکتونو کې اړين او ګټور باله.

په ټولنه کې لوړوالی، د ثروت درلودل او يا د يوه داسې موقف درلودل چې په خلکو کې نفوذ کولای شي، لکه ډاکټري، حقوق پوهنه، بې له دې چې په دې فکر وشي چې آيا دا د غړيتوب وړ دی، په دغه حرکتونو کې جذب او د دغه حرکتونو پرېکړې به يې کولې. په پايله کې ګډه وډې او طبقاتي روحيه د دوی د غړو تر منځ په ښکاره توګه څرګندېدله او د دغه حزبونو غړي د تمايز له امله د نورو په وړاندې ډېر تر جاذبې لاندې راغلي وو، چې لامل يې نه يوازې د دوی ثروت او ټولنيز موقف وو، بلکې په دې دليل هم و چې د داسې حزبونو غړيتوب لري، نو ځان يې له عامو خلکو څخه لوړ شمېره او د همدغه ضعف او کم ځواکۍ له امله چې احساساتي وه، د دوی او نورو خلکو ترمنځ هېڅ ډول تفاعل او نژدې والی را پيدا نه شو، په پايله کې د دوی شتون د ټولنې يو بار وو چې د امت ستونزې يې نورې هم زياتې کړې.

په دې اړه څېړنه او دقيقه بيا کتنه دا ثابتوي چې په اسلامي هېوادونو کې په تېره پېړۍ کې هېڅ يو صحيح حزبي تشکيل رامنځ ته نه شو، چې اسلامي امت فکري ترقۍ او پرمختګ ته ورسوي. امت نه شي کولای له تشکيلاتو او ميکانېزم پرته له دغه انحطاط څخه ووځي. تر اوسه ټول جوړښتونه ناکام شوي دي. ځکه دوی په ناسم بنسټ باندې ولاړ وو، هغه پوښتنه چې دلته را ولاړېږي دا ده، هغه صحيح تشکيلات چې امت د انحطاط له حالت څخه باسي څه ډول وي؟

هغه صحیح تشکیل چې د امت د ترقۍ په لاره کې مرسته کولای شي، د انجمنونو په ډول تشکیل نه لري، ځکه چې د انجمن غړي یوازې د یوه مخصوص کار او یا یوې ځانګړې مشورې او یا دغو دوارو لپاره په کار ګومارل کېږي. د دا ډول جوړښتونو او یا حزبونو چې ایډیولوژي نه لري او په اسلامي نړۍ کې له لومړۍ نړیوالې جګړې څخه وروسته په امت کې جوړ شوي دي باید د هغوی د نفوذ مخه ونیول شي.

صحیح تشکیلات له هغه حزبونو څخه عبارت دي، چې اساس ولري او هغه اساس به اسلام وي. په دغه تشکیل کې فکر، د حزب روح یا مرکزي هسته او د هغه د شتون جوهر جوړوي. د دغه تشکیل لومړنی سلول (هسته) هغه شخص دی چې له ځان سره فکر لري او د هغه طریقه هم له عین فکر څخه اخیستل شوې وي، ترڅو هغه یو داسې شخص شي چې په خالص او څرګند شکل سره عین فکري څرنګوالی او ځانګړې او مستقیمه طریقه له ځان سره لري. هر وخت چې دغه درې عناصر (ژوره مفکوره، څرګنده او روښانه طریقه او مخلص انسان) سره یو ځای شي، لومړنی سلول رامنځ ته کېدای شي.

دغه سلول ډېر په بیړه بل سلول ته تکثر کوي، په پایله کې لومړنۍ حزبي حلقه جوړېږي، یعنې د حزب مشري یاقیادت جوړوي. کله چې لومړنۍ حلقه جوړه شوه، د حزب کتله را ښکاره کېږي. وروسته دغه ډله حزبي اړیکو ته اړتیا لري، ترڅو هغه کسان چې مفکوره او طریقه یې قبوله کړې ده، یو له بل سره وتړي. او دغه حزبي اړیکه له عقیدې څخه عبارت ده، چې له حزبي فلسفې او حزبي ثقافت څخه یې په داسې شان سره سرچینه اخیستې ده چې حزبي مفاهیم یې مشخص کړي دي.

د حزب د کتلې له جوړېدو وروسته حزب د ژوند اصلي پړاو ته ورګډېږي، د دې پروسې په جریان کې له بېلابېلو حالاتو او ستونزو سره مخ کېږي او په بېلابېلو چاپېریالونو کې را ښکاره کېږي. په بل عبارت د هوا له ګرمۍ او او یخنۍ سره مخ

کېږي، ځيني وختونه يې سخت طوفان په مخه کوي او ځينې وختونه يو څه ملايم وي. کله پرې د لمر وړانګې را خورې وي او کله هم تورو وريځو د دعوت فضا تياره کړې وي. هر کله چې حزب وکولای شي، له داسې حالاتو سره مقاومت وکړي په دې صورت کې د حزب مفکوره متبلوره کېږي او طريقه يې لا واضح کېږي او دغه ډله به د خپلو غړو په تيارولو کې بريالۍ وي او د خپلو غړو تر منځ اړيکې پياوړې کوي.

په دې حالت کې کولای شي د دعوت د فعاليتونو په لاره کې عملي ګام کېږدي. په دې حالت کې له حزبي کتلې څخه وځي او په يوه ايډيولوژيک حزب باندې بدلېږي، چې امت د صحيح فکري ترقۍ لور ته بيايي او حرکت کوي. دا ټول له هغو صحيحو جوړښتونو څخه عبارت دي، چې د دوی بنسټ، ماهيت او د شتون جوهر فکره وي.

څرنګه کېدای شي کوم حزب چې ايډيولوژيکي جوړښت لري، امت فکري ترقۍ ته ورسوي؟ په طبيعي ډول د امت په منځ کې را څرګند شي؟

دا داسې بيانېږي: امت يو واحد جسم دی چې يو له بل څخه نه شي بېلېدای او د انسان له شکل سره بشپړ ورته والی لري. هرکله چې يو شخص له يوې سختې ناروغۍ څخه شفا ومومي، په ټول وجود کې يې ژوند د دويم ځل لپاره پو کېږي. په همدې ډول امت هم مريض دی او بايد له سره ژوندی شي، د امت ژوند له هغې فکرې او طريقې څخه جوړ شوی، چې له يوه جنس څخه وي. په دې ترتيب سره ايډيولوژي کولای شي امت را ژوندی کړي چې د انسانانو فکره او طريقه جوړوي.

يوازې د ايډيولوژۍ شتون د امت د ژوند لپاره کافي نه دی، بلکې هغه مهال امت دويم ځل ژوند مومي چې د ايډيولوژۍ لور ته هدايت پيدا کړي او هغه د خپل ژوند په چارو کې عملي کړي. ايډيولوژي په قانون جوړونه، ثقافت او د امت په تاريخ کې اوس مهال شتون لري. اما کله چې امت له فکرې او طريقې او يا هم د دغه دواړو

له اړیکې څخه نا خبره وي، نه شي کولای فکري ترقۍ ته ورسېږي، ځکه یوازې د فکرې او طریقې شتون د امت د ترقۍ لپاره کافي نه دی.

معمولا د ژوند انرژي هغه مهال په امت کې پیدا کېږي چې په جامعه کې سخت ټکانونه پېښ شي او په پایله کې یې ګډ احساسات سره را ټول کړي او دغه ګډ احساس د فکري پروسې لپاره لاربښوونه کوي، چې یو شمېر پېښې او افکار د بحثونو په پایله کې د سختو ټکانونو تر اغېزې، انګېزو او د امت لپاره د مستقیمو او غیر مستقیمو وسیلو په واسطه چې امت د هغو په واسطه نجات مومي؛ ترسره کېږي.

سره د دې چې د ټولنې د غړو تر منځ دغه احساس ګډ دی، خو بیا هم د هغه شدت د دوی تر منځ توپیر لري، ځکه الله ﷻ هر فرد ته ځانګړی ظرفیت ورکړی دی؛ له دې امله د فکرې په اړه د ټولنې پوهاوی پټ پاتې کېږي، ترڅو چې دغه پوهاوی د ډېرو با احساسه او قوي درک په څښتنو باندې را خورېږي. فکره دوی ویښوي، تشویقوي او عمل کولو ته یې تحریکوي، په دې ترتیب سره په دوی کې د حیاتي انرژۍ لومړنۍ نښې لیدل کېږي.

هغه کسان چې د قوي احساساتو او درک خاوندان دي د ټولنې د احساساتو استازیتوب کوي او فکره د دوی تر منځ تمرکز مومي او حرکت دوی په ویښتیا او پوهاوي سره رهبري کوي، دوی د امت سترګې او د هغوی له منځه یوه ډله وي.

په لومړي سر کې دغه ډله یوه، ناراحت او حیران کسان دي، دوی بېلابېلې لارې چارې او په دې کې چې د کوم منهج پیروي وکړي شکمن وي. د پوهې شدت هم د دغه ډله خلکو تر منځ توپیر لري. هغه فکر چې په درک باندې ولاړ دی (منطق الاحساس) په ځینو کې قوي او په ځینو نورو کې ضعیف وي. د دغه ډلې له منځ څخه ممتاز افراد پاڅون کوي او له ژورو مطالعو او څېړنو وروسته له یوه منهج څخه پیروي کوي. دوی هغه موخه چې باید تر لاسه یې کړي پېژني او دغه موخې ته د رسېدو طریقه هم ورته روښانه وي او په دې شکل سره دغه منهج د خپل هدف لپاره تعقیبوي

او مني. دا کار په داسې ډول ترسره کېږي چې دا ډله ایډیولوژي د فکرې او طریقې په توګه قبلوي او د راسخې عقیدې خاوندان وي. دا ډله د ایډیولوژۍ درلودونکي وي او عقیده له حزبي ثقافت سره یو ځای له ځان سره لري او دا له هغه اړیکې څخه عبارت ده چې د دې شخصیتونو تر منځ شتون لري.

هرکله چې ایډیولوژي د دې کسانو د باطن جز وګرځي دوی نه شي کولای چې د ځان لپاره یې محدوده وساتي، بلکې غواړي نورو ته یې ورسوي. دوی هڅه کوي چې د دې ایډیولوژۍ په چارچوکاټ کې خپل اعمال او کردار د ایډیولوژۍ له طریقې سره سم کړي. د دغه کسانو ژوند د ایډیولوژۍ لپاره روح بښونکی کېږي. نور د واجباتو د ادا کولو لپاره را بولي. د دوی موخه په نورو باندې هم د دې ایډیولوژۍ منل او د عامه پوهاوي (الوعی العام) را منځ ته کول دي. په همدې توګه لومړۍ حلقه په کتله اوړي او دا کتله په یوه حزب چې د ایډیولوژۍ درلودونکی وي او په طبیعي ډول په دوو برخو کې وده کوي.

په لومړۍ برخه کې غواړي چې نوي سلولونه جوړ او ډېر کړي، ترڅو ایډیولوژي په پوره پوهه سره قبوله کړي او په هغې وپوهېږي. په دویمه برخه کې په امت کې د دوی دنده د ایډیولوژۍ په اړه عامه پوهاوی دی او دغه عامه پوهاوی په ډېرو خلکو او یا ټول امت کې د ایډیولوژۍ په اړه د افکارو، اندونو او عقایدو د یووالي لامل کېږي.

په پایله کې موخه، عقیده او د امت نظریه د ژوند په اړه یوه کېږي. وروسته حزب د ویلې کولو د کورې حیثیت لري چې امت له ځان سره ویلي کوي او له ناپاکو او فاسدو افکارو څخه چې دوی د انحطاط لور ته بیایي او یا یې د انحطاط په لور پرمختګ کړی وي، پاکوي. حزب ته ښایي چې د ویلي کېدو بهیر د امت د ترقۍ او پرمختګ لپاره په غاړه واخلي.

دغه ستونزمنه دنده یوازې هغه حزب په غاړه اخیستی شي، چې د ایډیولوژۍ له فکرې سره ژوند وکړي او ټول ژوند دغه مفکورې ته وقف کړي او له خپل هر ګام څخه پوره خبر وي.

دا فکر چې د حزب په منځ کې له احساساتو څخه را ولاړ شوی، د امت په منځ کې د بېلابېلو افکارو په توګه ښکارېږي. دا یوازې له نورو افکارو څخه یو فکر دی او په لومړي سر کې د نورو افکارو په پرتله کمزوری وي، ځکه چې نوی ښکاره شوی، تر اوسه د متمرکز کېدو توان نه لري او مرستندویه فضا هم نه لري. سره له دې دا فکر په منطق او احساس باندې ولاړ دی، یعنې د احساس په مرسته نبغ په نبغه درک کېدای شي، فکري احساس تولیدوي، یعنې د ښکاره احساساتو درلودونکی وي، چې له ژورو افکارو څخه یې سرچینه اخیستې وي، ځکه دا افکار د دوی له طبیعت سره یووالی لري او هر څوک چې ورڅخه اغېزمن شي صادق کېږي، آن که هغه کس یې غوښتونکی هم نه وي.

دا افکار د عقیدې او ثقافت په څېر د دغه مخلص شخص په طبیعت کې را ښکارېږي او هغه د ده په وجود کې یو سرکښ بدلون راولي او دا بدلون د فکر او شعور له اور اخیستو څخه وروسته ترسره کېږي، چې د دعوت په برخه کې یو ګرم شوق، جدیت او صداقت منځ ته راولي، له دې سره جوخت د دعوت په برخه کې منطق او فکر خپروي او د یوه بل شوي اور په څېر وي، چې فساد سوزوي او هغه نور چې د اصلاح لاره روښانوي، دې ته ورته وي.

په همدې دلیل دعوت له فاسدو افکارو، رنګوونکو عقایدو او ټیټو عاداتو سره نه یو ځای کېږي او په پای کې دوی غواړي له ځان څخه دفاع وکړي. همدا له ځان څخه دفاع کول د دوی له ایډیولوژۍ سره لومړنۍ برخورد دی، چې په پایله کې ایډیولوژۍ ته ځواک ورکوي. دا تنازع تر هغه وخته دوام کوي، چې ټول افکار،

عقاید او فاسدې لارې تیت پرک کړي او د امت په منځ کې یوازې د حزب ایډیولوژي د افکارو او عقیدې په څېر باقي پاتې کېږي.

کله چې حزب افکار، عقاید او نظریات یو له بل سره یو کړي، هغه مهال د امت تر ښه بصیرت او پوهې لاندې صحیح یووالی مومي، په دې ترتیب حزب امت ویلې، پاک او خالص کوي او له دوی څخه یو امت جوړوي او په همدې توګه امت یوه صحیح وحدت ته رسېږي.

وروسته له دې حزب دویم پړاو ته ور د ننه کېږي، چې امت د انقلابي اصلاح خوا ته را بولي ترڅو امت د دویم ځل لپاره را ژوندی کړي او د واجباتو تر سره کولو ته چې ټولو انسانانو ته د اسلامي رسالت رسول دي، مسلمانان هڅوي. ځکه چې حزبي تشکیلات یو انفرادي حرکن نه بلکې یو ټولیز حرکت دی. هغه کسان چې په اسلامي هېوادونو کې د حزبونو مسوولین دي باید ټولیز حرکات په پاملرنې سره مطالعه کړي او د هغوی په حقیقت باید بشپړ پوه شي.

د دغه ټولیزو حرکتونو پېژندل؛ چې په خپل عصر کې ډېر لوی اغېز لري، دا ښکاره کوي چې نوموړي حرکات د ډېروالي په صورت او یا هم د انسان د طبیعي حقونو او آسوده ګۍ په مراعات کولو سره مهمې دندې خلکو ته د وړتیا پر بنسټ نه سپاري او نه را پورته کېږي. د دې حرکتونو پېژندګلوي زموږ لپاره دا آسانه کوي چې دا ډول حرکات په پوره توګه و ارزوو، چې دا ارزونه به هم یوه محیطي ارزونه وي، یعنې دغه حرکتونه چې را منځ ته شوي، د اوسنیو حالاتو په اړه یې باید مطالعه کړي، ځکه چې نور حرکات یې چاپېر کړي دي او یا یې کړي وو او کوم اغېز یې چې د پوهو او ځیرکو کسانو په کارونو کړی دی، د دوی په چلند کې یې ستونزې رامنځ ته کړې دي، چې د دوی د بریالیتوب او پرمختګ په وروسته پاتې والي یې اغېز کړی دی.

د ټولیزو حرکتونو بریالیتوب د خلکو د احساساتو په تحریکولو کې د دوی وړتیا بلله کېږي او همدا راز د خلکو په تشویقولو کې چې خلک ورته خپل احساسات بیانوي، هرکله چې د حکومت طریقه د دوی ایډیولوژي تر پښو لاندې کړي او یا یې د خپلو مصلحتونو او غوښتنو لپاره بدله کړي.

د دغه حرکتونو د پېژندلو لپاره باید د امت ژوند په ټولنه کې وڅېړل شي او همدا راز د امت او حاکمینو تر منځ اړیکې او د حاکمینو اړیکې له حاکمینو سره او د دغه اړیکو بنسټ پېژندنه په امت کې ډېره اړینه ده او ښايي رواج شوي افکار او اندونه د اسلام له لرلید څخه وروسته وڅېړل شي او د بدلون په صورت کې یې باید حکم وټاکل شي. موږ باید په دې پوه شو چې دا ډول بدلونونه په اصولو او فروعو دواړو کې راغلي دي. د دې حرکتونو پېژندنه د امت د احساساتو څېړنې ته اړتیا لري، څکه چې هغه د اندونو، افکارو او هغه احکامو ښکارندوی دي؛ چې د امت له ژوند څخه ورک شوي دي او دا د حکومت د زور، مکر او پیسو په واسطه تحمیل شوي دي.

د دغه حرکتونو پېژندل امت دې ته هڅوي چې د هغه نظام د پېژندلو په لټه کې شي کوم چې په دوی یې په زور تحمیل کړی دی، دغه غیر اسلامي نظام یو ګواښ دی او په حقیققت کې یې اسلام له ټولنې څخه لیرې کړی او امت یې د بدبختۍ او بیچاره ګۍ کندو ته غورځولی دی. دا پېژندنه د هغه متفکرینو پېژندنې، تمایل او پوهې ته اړتیا لري کوم چې په امت کې شتون لري. ترڅو دا درک کړي چې په کومه اندازه د فاسد نظام تطبیق دوی قبول کړی او دا موضع هم باید معلومه شي چې په کومه اندازه دوی د دغه فاسد نظام تر وېرې، اغېز او اغوا لاندې راغلي دي.

له دې سره سره حزبي کتله باید خپل ځان وپېژني چې د قوي احساس، عمیق فکر او پاک اخلاص درلودونکې ده او دا حزبي کتله باید هغه پېښې چې په ټولنه کې پېښېږي له ځان سره ولري او له اسلامي قوانینو سره د دوی ایمان، د ټولو غولونو،

ډارونو، تهدیدونو، ورټیاوو او آزموینو سره اغېزمن نه کړي. هغه باید د اصلي ارزښتونو ساتنه او په لوړه کچه د ایمان ساتل له ځان سره ولري او دا حزب باید د ژورو اسلامي افکارو درلودونکی وي او همدا راز د عامه ګټو په وړاندې په پوره ډول د مسوولیت څښتن وي او همدا راز د ایډیولوژۍ په ساتنه کې بې له کوم مصلحت او سرغړونې څخه مسوول وي. بې له دې چې فکر وکړي چې په دغه حزب باندې څومره فشار، ظلم، سختي او تهدید راځي. دوی باید په پرېکنده ډول خپلې دندې ته اوږه ورکړي او د هغه له لاسته راوړنو څخه باید بشپړ پوه او خبر وي او همدا راز د دې لاسته راوړنو تر لاسه کولو ته هم باید چمتو وي.

د ټولیزو حرکتونو تاریخي او واقعي څېړنه او ځینه د ایډیولوژیکي حزبونو د طبیعت د پېژندنې او تګلوري په اړه ورسره پوره مرسته کوي او دا کار باید په ډله ییز ډول ترسره شي. حزب باید د اړتیاوو د پوره کولو لپاره تیار وي او په خپله طبیعي لاره کې باید وړاندې لاړ شي. هرکله چې حزب د خپلو کارونو او دندو په برخه کې د کمښت احساس وکړي او یا هم د څېړنې له لارې دې پایلې ته ورسېږو چې حزب په خپلو کړنو کې انعطاف ته اړتیا لري، یا هم حزب په خپله دستګاه کې تبدیل او بدلون ته اړتیا لري او یا دا احساسېږي چې حزب باید په خپل کفاح (مبارزه) کې تر دې لا ثابت شي، هغه مهال حزب باید خپلې اړینې لارې وټاکي، په داسې شان سره چې د اسلامي رسالت په رسولو کې په بریالیتوب سره امت فکري ترقۍ او پرمختګ ته ورسوي او امت به د دغه مقدس رسالت رسول ټولې دنیا ته غوره، لا ګړندی او قوي کړي.

حزب له تشکیلاتي اړخ څخه په لاندې لارو ځي:

۱. یو کس چې د پوره عقلي او ادراکي وړتیا درلودونکی وي، ایډیولوژي تر لاسه کوي. ایډیولوژي له ده سره تفاعل کوي، ترڅو ده ته واضح او متبلوره شي. په همدې ډول د حزب د لومړني سلول جوړښت رامنځ ته کېږي او دا سلول وروسته له ښکارېدو ډېر ژر په ډېرښت پیل کوي، البته دا ډېرښت به ورو وي، سره له دې چې ډېر نوي کسان به له حزب سره یو ځای کېږي. چې په دې ترتیب سره به ډېر سلولونه جوړېږي. د دغه کسانو اړیکه پوره ایډیولوژیکه ده، له همدې امله لومړۍ حلقه د حزب قیادت په غاړه لري او راښکاره کېږي. ایډیولوژي باید یوازې د افرادو د جوړښت او تشکیل محور جوړ کړي او ایډیولوژي باید یوازې د افرادو لپاره د جاذبې محور وي، چې خپل لور ته یې را وکاږي.

۲. دا حلقه په طبیعي ډول له څو محدودو کسانو څخه جوړه شوې ده، چې په پیل کې ورو حرکت لري. سره له دې چې حزب د خپلې هغې ټولنې احساسات بیانوي په کومه کې چې دوی را څرګند شوي. اما د حزب رهبري نوي اصطلاحات او مفاهیم ټولنې ته وړاندې کوي، چې ټولنه ورسره روږدې نه وي. حزب د نویو مفاهیمو خاوند دی، چې د ټولنې له غالبو مفاهیمو سره توپیر لري. سره د دې چې دا نوي مفاهیم د ټولنې د احساساتو څرګندوونکي دي. په همدې ترتیب په ټولنه کې لومړنۍ حلقه په غیر عادي توګه د یوه ناآشنا په څېر ښکاري، یوازې هغه کسان ځان ته جلبولی شي چې قوي احساسات لري، د دغه کسانو لوړه پوهه دوی د ایډیولوژۍ لور ته جلبوي، چې لومړۍ حلقه یې له ځان سره لري.

۳. د لومړنۍ حلقې فکر ژور وي او د فکري ترقۍ او پرمختګ طریقه یې بنسټیزه وي. یعني حلقه له بنسټ څخه پیل کوي او دا طریقه لومړنۍ حلقه لوړ مقام ته په

رسېدو بريالۍ کوي، چې له ليرې به د نظارت وړتيا لري. په دې ترتيب سره لومړنۍ حلقه د امت هغو بدو شرايطو ته چې په کې ژوند کوي نظر اچوي او وړاندې ځي، چې په پای کې د لرليدنې (بصيرت) او واضح منظرې (تصوير) خاونده کېږي، هغه حالت ته چې غواړي امت هلته ورسوي، په وضاحت سره د اوسني حالت د تغير په طريقه پوه وي. هغه ټولنه چې دغه حلقه په کې ژوند کوي، نه شي کولای له ليرې ووينې، دوی کولای شي يوازې اوسنی حالت وګوري.

له دې امله چې خلک ورسره يو ځای کېږي له خپل اوسني حالت او موقعيت څخه نه شي کولای پورته لاړ شي او وضعيت په ښه ډول درک کړي. د ټولنې د وروسته پاتې او بدو افکارو له امله، هرڅه له خپل فعلي حالت څخه ارزوي، چې په پايله کې په عمومي ډول د اشتباهي موضوعاتو د خپراوي لامل کېږي. پر دې بې اساساً خپله ټولنه په فعلي ډول عياره کړې وي او همدا راز د ټولنې مصلحت له اوسني حالت سره سمون لري.

د حزب لومړنۍ حلقه له دا ډول افکارو څخه خالي وي او د پراخو او جامع افکارو خاونده وي. له دې پلوه حزب اوسنی حالت د فعلي واقعيت په ډول خپله فکري موضوع بللې او له اوسني حالت څخه د فکري سرچينې په ډول له ګټه اخيستنې څخه ډډه کوي. له همدې امله دوی ايډيولوژي د اوسنيو حالاتو لپاره نه بلکې حالات ايډيولوژۍ ته راجع کوي. پر دې اساس کله چې وغواړو اوسني حالت ته بدلون ورکړو، هغه بايد نوی د څېړنې د موضوع په ډول وضع کړو، بايد ښه ورته ځير شو، حزب په دې لټه کې دی چې اوسنی حالت له خپلې ايډيولوژۍ سره سم بدل کړي او له دې سره چې ايډيولوژي له اوسنيو حالاتو سره سم بايد بدلون وکړي، ډډه کوي. په پايله کې د ټولنې اخيسته له ژوند څخه او د لومړۍ حلقې اخيستنه څرګندېږي، د دې موخې لپاره دا ډول اختلافونه يو اړين امر بلل کېږي.

۴. د لومړۍ حلقې (قیادت) افکار په ثابتو بنسټونو ولاړ دي او باید دغه افکارو ته له عمل سره اړیکه ورکړي او افکار او اعمال باید د یوه ټاکل شوي هدف درلودونکي وي. دا چې د حزب لومړنۍ حلقه په حقیقي توګه د ایډیولوژۍ درلودونکې ده او افکارو ته هم باید له پورتنیو یادو شوو اصولو سره اړیکه ورکړل شي، ترڅو یوه ثابته ایماني فضا را منځ ته کړي، دا فضا واقعیت لیدلو او بدلون ته لاره اواروي. دا افکار له هر هغه څه سره چې مخامخ کېږي مطابقت نه کوي، بلکې په عوض کې د واقعیت لپاره د خپلو افکارو مطابق یو چوکاټ وړاندې کوي. په داسې حال کې چې د ده په وړاندې ټولنه په انحطاط کې ده او هېڅ فکري قاعده نه لري او د واضح هدف درلودونکې هم نه ده، چې په هغې فکر وکړي او د هغه د عملي کولو لپاره کار وکړي او زیار وباسي. د دوی د غړو موخه بیړنۍ او ځان خوښوونکې وي. په پایله کې جامعه د ایماني فضا خاونده نه وي او ټولنه په اجباري ډول د هغه له محیط سره سمون مومي او د حزب د لومړنۍ حلقې او ټولنې تر منځ ټکر واقع کېږي.

۵. د لومړنۍ حزبي حلقې (قیادت) دنده د ایماني فضا را منځ ته کول دي، چې هغه به هم په ټولنه کې د فکر یوه ټاکلې طریقه تحریک کوي. په صحیح او ډېر سرعت سره د حزب د جسم د بنسټ ایښودلو لپاره باید قیادت ځینې طرزالعملونه را منځ ته کړي، ترڅو په بیړه پراختیا ومومي، خپل چاپېریال په پوره ډول سره تصفیه کړي او له یوې حزبي حلقې څخه حزبي تکتل ته بدلون وکړي، وروسته باید د یوه پوره حزب په ډول را منځ ته شي. البته په داسې شکل چې په ټولنه اغېز وکړای شي او د دې مخه ونیسي چې ټولنه په دوی اغېز وکړي.(د ټولنې په وړاندې فاعل وي نه منفعل)

٦. په دې سنجول شوو اعمالو (طرزالعملونو) کې د ټولنې، د ټولنې د افرادو او د واکمنې فضا څېړنه او هم په احتیاطي ډول د فاسدو عناصرو د نفوذ څېړل په

حزبي جهاز (اداري دستګاه) کې یو لازمي امر دی. دا په دې دلیل ترسره کېږي چې هره اشتباه کولای شي حزب له خپل اصلي مسیر څخه منحرف کړي او د انشعاب لامل شي.

۷. دا یو اړین کار دی چې راسخه او ثابته عقیده، حزبي ثقافت د حزب د غړو تر منځ د اړیکې د ټینګښت لامل شي، چې حزب ته به جهت ورکوي، نه یوازې هغه قوانین چې په پاڼو کې لیکل شوي دي. د دې عقیدې او ثقافت د پیاوړتیا طریقه، درس او تفکر دی، چې ځانګړی ذهنیت را منځ ته کوي. همدا راز افکار باید له احساساتو سره یو ځای شي ایماني فضا باید همېشه غالبه وي، تر څو له هغو دوو عواملو څخه ملاتړ وکړي چې حزب ته یې پیوند ورکړی، هغه عبارت له زړه او عقل څخه دي. پس دا یو اړین امر دی چې په ایډیولوژۍ بشپړ ایمان ولرو، ځکه د افرادو زړونه حزب ته پیوند ورکوي. دویم عامل چې حزبي غړي سره نښلوي عقل دی، چې د هغه په واسطه له ایډیولوژۍ څخه ژور درک کول او په هغه د پوره پوهېدلو لپاره کار اخیستل کېږي. په پایله کې حزب په صحیح ډول جوړېږي، خپلمنځي اړیکه یې محکمه وي، چې حزب ته د ټولو ټکانونو او رقابتونو په وړاندې مقاومت اووړتیا ورکوي.

۸. کولای شو د حزب د رهبري (لومړنۍ حلقه) له یوه سوزوونکي ماشین سره ورته وبولو. د بېلګې په توګه، په یوه ماشین کې په یوه جرقه سره پټرول اور اخلي، دا سون حرارتي انرژي تولیدوي، حرارتي انرژي داخلي فشار لوړوي، دا فشار څرخونه مخ په وړاندې بیایي، چې په پایله کې د ماشین د نورو برخو څرخونه روانېږي او کله چې ماشین ودرېږي د ماشین نورې برخې هم درېږي. همدارنګه که جرقه او بنزین نه وي ماشین درېږي، له دې امله ماشین، پټرول او جرقه باید شتون ولري ترڅو ماشین په حرکت راشي.

په همدې ترتيب د حزب د رهبرۍ په (لومړۍ حلقه) کې فکر د جرقې، د افرادو احساسات او د حزب د رهبرۍ پوهه د پټرولو او د افرادو احساسات چې د فکر تر اغېز لاندې راځي د ماشين د حرکت حيثيت لري. هرکله چې فکر د افرادو له احساساتو سره تماس ونيسي انرژي توليدوي او قيادت په حرکت راولي او په پايله کې د حزب ټولې برخې لکه افراد، حلقې، سيمه ييزې ادارې او نور د هغه له حرارت څخه اغېزمن کېږي، له دې امله دوی د ماشين په څېر حرکت کوي، حزب په جوړښت او حرکت پيل کوي او قيادت (رهبري) بايد د حزب نورو غړو ته انرژي ورکړي ترڅو په صحيح ډول عمل وکړي، ځکه دا يو اړين کار دی چې ماشين بايد يو منظم او همزمان حرکت ولري، ترڅو په صحيح ډول حرکت وکړي. دا ډول د حزبي قيادت او د سون د ماشين تر منځ ګډه ورته والی موجود دی.

دا چې حزبي قيادت په نورو حزبي غړو باندې اغېز ولري، بايد چې په دايمي توګه له نورو غړو سره اړيکې ولري. کله چې د حزب رهبري له ډېرو هلو ځلو څخه وروسته له نورو کمېټو او اشخاصو سره د په تماس کې کېدو په پايله کې دې نتيجې ته رسېږي، چې دوی دې بې له رهبر څخه حرکت نه شي کولای، بايد مايوس نه شي، ځکه چې دا يو طبيعي امر دی، ترڅو چې ماشين په حرکت را نه شي، حرارت توليد نه کړي، وسيله په حرکت نه راځي، که هرڅومره هم د ماشين پر خلاف دوی خپل حرکت په نورو غړو تحميل هم کړي. د حزب رهبري يا لومړۍ حلقه د دې لامل نه کېږي چې د حزب په نورو غړو باندې حرکت تحميل کړي.

د حرکت د تحميل پروسه يوازې په پيل کې اړينه ده، کله چې حزب يو ځل په حرکت راشي، نور غړي کولای شي حرکت ته ادامه ورکړي، بې له دې چې د دوی د حرکت لارښونه رهبري يا قيادت وړاندې يوسي. له دې پلوه د حزب رهبري د سون له ماشين سره توپير لري. د سون ماشين همېشه د ماشين محرکه قوه بلله کېږي، ترڅو چې وسيله په حرکت را نه شي ماشين په حرکت نه راځي. سره د دې که د حزب

رهبري د سون د يوه ماشين په پرتله يوه ټولنيز ماشين ته ورته ده، د حزب غړي چې له حلقو او سيمه ييزو کمېټو څخه جوړ شوي دي، انسانان دي نه د اوسپنې ټوټې، هغوی ژوند لري او د ايډيولوژۍ حرارت په دوی اغېز لري، چې د هغه درلودونکې لومړنۍ حلقه (رهبري) يا قيادت دی.

پس د فکرې له تفاهم وروسته دوی او له حزبي قيادت سره د دوی د وصل کېدو کړۍ، دوی د حزب د ماشين برخه ګرځېدلي، چې د رهبرۍ حرکت له ځان سره لري. وروسته محضې د رهبرۍ خوځښت د دوی د حرارت په پرتله، په ټول حزب کې په طبيعي ډول حرکت خپروي. د حزب رهبري د يوه ټولنيز ماشين په ډول د يوه عمومي فکر شکل په ټول حزب کې غوره کوي. په دې مرحله کې نور حزب يوازنۍ د حرکت تيارولو وسيله نه ده. د رهبرۍ او حزبي تشکيلاتو په بشپړتيا سره ټول حزب د حرکت تياروونکی بلل کېږي.

له دې پلوه حزب هغه حرکت او حرارت ته چې رهبرۍ به يې را منځ ته کوله نوره اړتيا نه لري. په بدل کې يې ايډيولوژي د غړو تر منځ جريان مومي. حزب او د هغه سيمه ييزې کمېټې په خپله مخکې ځي، بې له دې چې د رهبرۍ له حرکت سره تړاو ولري. په دې دليل سره چې د حزب د هر غړي حرارت د حزب له خپاره شوي فکر سره تړاو لري او په طبيعي ډول له نورو غړو سره وصل وي.

۹. يو ايډيولوژيکي حزب د خپلې ايډيولوژۍ د تطبيق لپاره په ټولنه کې دريو مرحلو ته اړتيا لري:

- د درس او تعليم مرحله چې حزبي ثقافت را منځ ته کړي.
- په هغه ټولنه کې چې دوی ژوند کوي، له هغو سره د تفاعل مرحله ده، ترڅو ټولنه له ايډيولوژۍ څخه خبره کړي. د ايډيولوژۍ قبلول بايد د ټولنې عام عرف شي او ټوله ټولنه يې بايد د يوې ايډيولوژۍ په څېر وپېژني او په ټوليز ډول ورڅخه دفاع وکړي. په دغه مرحله کې د امت او هغه کسانو چې د دې ايډيولوژۍ د

تطبیق تر منځ خنډ واقع کېږي، کفاح (مبارزه) پیلېږي. دا حایلونه (خنډونه) عبارت دي له : استعمار، لاسپوخې حاکمه اداره، ظلامیین (هغه کسان چې په تیاره کې ژوند ته ترجیح ورکوي) او هغه کسان چې د پردیو د ثقافت پلویان دي. امت له دې امله دغه کفاح ته ور دننه کېږي چې ایډیولوژي یې خپله قبوله کړې ده او حزب د خپل لاربنود په څېر ویني.

- په خپل لاس کې د حکم د واک د اخیستلو مرحله چې د امت په وسیله ترسره کېږي ترڅو په ټول امت کې ایډیولوژي تطبیق کړي، له دغې وروسته د حزب عملي ناحیه په ژوند کې را څرګندوي او ایډیولوژۍ ته دعوت د دولت او حزب له اساسي دندو څخه شمېرل کېږي او د ایډیولوژۍ رسول یا حمل د امت او دولت ګډه دنده ده.

۱۰. لومړۍ مرحله چې د تاسیس مرحله ده، ګومان کېږي چې د امت ټول کسان له صحیح ثقافت څخه خالي دي. حزب د افرادو په تدریس پیل کوي، هغه کسانو ته چې له حزب سره د یو ځای کېدو مینه لري او ټولې ټولنې ته د یوه ښوونځي په څېر ګوري جذبوي. حزب په دې هڅه کې دی، چې په لنډه موده کې یوه پیاوړې ډله له ټولنې سره د تفاعل او اتصال وړتیا ولري، و روزي او تیار یې کړي. دا باید واضح شي چې تدریسي پروسه اکاډمیکه بڼه نه لري او په پوره ډول له مکتبي پروسې سره توپیر لري. تدریسي پروسه باید په دې مفهوم مخکې لاړه شي چې ایډیولوژي ښوونکې او روزونکې وي، (هغه سرچینه چې افکار ور څخه اخیستل کېږي). ټول شوی معرفت او ثقافت باید په ایډیولوژۍ پورې تړلی او د ژوند د وړاندې بېولو لپاره اړین وي. سره له دې چې د حزبي ثقافت له اکاډیمیک او مکتبي کېدو څخه باید مخنیوی وشي، په هغو باید عمل وشي، د غړو د افکارو او اکاډیمیکي اړخ تر منځ باید یو ډبل مانع را منځ ته شي.

۱۱. حزب یو داسې تشکیل دی چې په فکره او طریقه ولاړ دی، چې دواړه ایډیولوژي جوړوي او افراد په هغې ایمان لري. حزب د ټولنې د افکارو او احساساتو سرپرستي کوي، ترڅو هغه لوړ کړي او له فکري او احساساتي انحطاط څخه یې وژغوري. حزب د امت لپاره یو ښوونځی دی چې امت ته تدریس کوي، تیاروي یې او نړیوال ډګر ته یې بیایي. حزب یو واقعي ښوونځی دی، چې دا کار سرته رسوي، ځکه چې دا کار نور مکتبونه نه شي کولای، بې له دې چې دې ته یې پام وکړو چې هغوی څومره له حزب سره توپیر لري او یا هم بې شمېره کسان او ډېره پراختیا لري.

د حزب او ښوونځی تر منځ چې کوم توپیرونه شتون لري، هغه باید وپېژنو:

أ. یو ښوونځی سره له دې چې ډېر ښه پروګرام لري، نه شي کولای د امت د فکري پرمختګ ضمانت وکړي. فکري پرمختګ یوازې هغه وخت راتلای شي، چې په ټولنه کې یو حزب جوړ شي او د ښوونځي دنده په غاړه واخلي. ځکه چې یو ښوونځی د هغه طبیعت ته په پام سره، که له قیوداتو څخه ازاد هم وي سترې کوونکی دی. یو ښوونځی د ځانګړو صفاتو او خواصو درلودونکی دی. له دې پلوه د دې وړتیا نه لري چې د پېښو او بدلونونو ځواب ورکړی شي.د ښوونځی د تشکیلاتو بیا جوړونه یوه پېچلې پروسه ده او یوه ځانګړي وخت ته اړتیا لري. سره له دې ښوونځی له انسانانو څخه یو جامد موډل جوړوي، چې د بدلونونو په وړاندې مقاوم وي.

ب. یو حزب له خپل صحیح پروګرام سره د لاندې ځانګړتیاوو درلودونکی دی:

- د حیاتي ځواک خاوند وي او وده کوي.
- د پرمختګ درلودونکی وي، چې له یوې څخه بلې ته د تګ امکانات او لارې چارې برابروي.

- د تحرک او خوځښت د قدرت درلودونکی وي، چې د ټولنې ګوټ ګوټ ته او یا هم د هېواد هرې څنډې ته حرکت کوي.
- هغه حس او درک لري، کومې پېښې چې په ټولنه کې پېښېږي او ټولنه تر اغېز لاندې راولي درک کړي.

د حزبي ثقافت پروسه افراد دې ته تیاروي چې دوی په ژوند کې د پرلپسې بدلونونو او احساساتو ځواب ووايي. حزب په یو ډول وړاندې نه ځي، بلکې همېشه وده کوي، همېشه د تحرک او خوځښت په حال کې قرار لري. په ژوند کې په داسې ډول وړاندې ځي چې ځان د حزب له ایماني فضا سره سم کړي او په همدې ترتیب د حزب اوسنی حالت بدلون کوي، ترڅو له ایډیولوژۍ سره برابر شي.

ج. ښوونځی د دې لپاره جوړ شوی چې شخص د یو فرد په ډول د هغه له ظرفیت سره سم تهذیب او ترتیب کړي، سره د دې چې ښوونځی یوه کوچنۍ ډله ده، له تعلیمي پلوه فردي شکل لري. له همدې امله د هغه پایلې هم ټولنیزې نه بلکې انفرادي وي. د بېلګې په توګه هر کله چې یو ښار شتون ولري، د لس زره اوسېدونکو درلودونکی وي او دا د زرو شاګردانو لپاره کافي ښوونځی ولري، سره د دې هم دا ښوونځي نه شي کولای یوې ټولنیزې ترقۍ ته ورسوي.

د. د یوه حزب پر خلاف، ښوونځی له دې امله جوړ شوی چې ټولنه د دوی له ظرفیت سره سم روزنه، تعلیم او تهذیب کړي، بې له دې چې افراد د ټولنې له پلوه جوړ کړي. حزب افراد د ځانګړو کسانو په ډول نه بلکې د ټولنې د غړو په څېر بولي، له دې امله حزب هغه په ټولیز ډول روزي، ځکه چې هغوی د ټولنې یوه برخه ده، نه له دې امله چې هغوی افراد دي. له دې امله د حزب پایلې فردي نه بلکې ټولنیزې دي. د بېلګې په ډول، هرکله که یو، یو میلیوني هېواد د یوه سل نفري حزب درلودونکی وي، بې له دې چې دې ته پام وکړو چې څومره زحمت

او وخت ښوونځی په دې لاره کې لګوي او ځومره شمېر کسانو ته يې تعليم ورکړی دي. حزب کولای شي چې ترقي راوړي او ښوونځی د دې وړتيا نه لري.

ه. ښوونځي د دې لپاره جوړ شوي دي چې افراد دې ته تيار کړي ترڅو هغه ټولنه چې ژوند په کې کوي تر خپل اغېز لاندې راولي، سره له دې چې دا اغېز نا پوره او جزيي وي او د ټولنې د ټولو احساساتو په پرتله ډېر ضعيف او نا کافي دی.

و. د ښوونځی پر خلاف، حزب د ټولنې د تيارولو لپاره په فرد اغېز کوي، ټولنه کولای شي چې يو جامع اغېز رامنځ ته کړي، ځکه د هغوی احساسات پياوړي وي او د دې وړتيا لري چې افکار تحريک کړي. د دوی اغېز په افرادو ډېر قوي وي او په ډېر کم وخت کې په لږ لګښت ترقي راوړلی شي. دا احساسات دي چې افکار تحريکوي، د احساساتو او افکارو تفاعل د ترقۍ لور ته حرکت دی.

د ښوونځی او حزب تر منځ تر ټولو مهم توپيرونه په لاندې ډول خلاصه کېږي:

❖ ښوونځی ستړی کوونکی او ساکن وي، د دې وړتيا نه لري چې ځان د ژوند له بدلونونو سره جوړ کړي، په داسې حال کې چې حزب همېشه د ودې او حرکت په حال کې وي او د ژوند بدلونونو ته د ځواب ويلو وړتيا لري، له دې امله حزب ژوند د ايمان له فضا سره سم بدلوي.

❖ ښوونځی خلک تربيه کوي تر څو ټولنه تر خپل اغېز لاندې راولي، خو د هغوی لاسته راوړنې انفرادي دي، په داسې حال کې چې حزب ټولنه روزي ترڅو افرادو ته بدلون ورکړي او د هغه لاسته راوړنه ټوليزه او ټولنيزه وي.

❖ ښوونځی د افرادو احساسات ددې لپاره تياروي چې د ټولنې احساسات تر خپل اغېز لاندې راولي او د هغوی افکار تحريک کړي، په داسې حال کې چې حزب د ټولنې ټول احساسات په ټوليز ډول د افرادو د احساساتو بدلون ته تياروي. په پايله

کې د ټولنې عمومي او ګډ احساسات د دې وړتیا مومي چې افراد تر خپل اغېز لاندې راولي او افکار يې په اغېزمن ډول ويښوي.

۱۲. په دې مرحله کې همېشه بايد په دې وپوهېږو چې ټولنه په ټوليز ډول د حزب اساسي ښوونځی دی، له دې سره سره هغه توپيرونه چې د ښوونځی او حزب تر منځ د دوی د درسي حلقو په اړه شتون لري له پامه ونه غورځول شي. د دغه موضوع پوهېدنه چې ټولنه په ټوليز ډول د حزب ښوونځی دی، د حزبي دندو له طبيعت څخه په دې مرحله کې سرچينه اخيستل شوې چې د عقايدو د وينبتيا درلودونکې او د صحيح مفاهيمو وړاندې کوونکې دي. دا دندې يوازې کېدای شي د يوې روزنيزې پروسې په واسطه ترسره شي، چې په هغې کې د حزب ايډيولوژي معلمه وي او دا ايډيولوژي سرچينه هم ده، چې له هغې څخه افکار رامنځ ته کېږي او حزبي ثقافت هغه مضمون دی چې په کې تدريس کېږي. ايډيولوژي او حزبي ثقافت د هغه چا په وجود کې څرګنديږي، چې په پوره توګه د ايډيولوژۍ درلودونکی وي.

دا کسان د ټولنې نېغ په نېغه روزونکي دي او محلي کمېټه له حلقو سره د يوه ټولګي حيثيت لري چې ټولنې ته خدمت کوي، او ټوله ټولنه د يوه ښوونځی په څېر ده. دا تدريسي پروسه داسې حزبي افرادو ته اړتيا لري، چې حزبي مفاهيم يې منلي وي. په دې اړه ژورې څېړنې او ځيرنې ته بايد دوام ورکړي، په داسې شان سره چې صحيح پوهونه وروزي او همېش په هر ځای کې حزبي ثقافت زده کړي. سره له دې بايد اساسي قانون، ځينې نور مهم قوانين او عامه اصول چې حزب تبني کړي دي په يادو زده کړي. دا د يادولو پروسې ته اړتيا لري، چې ښوونځی ته ورته کېږي او دا يو اړين کار دی، چې هر څوک حزب ته داخلېږي بايد له دغې پروسې سره توافق وکړي. دا مهمه نه ده چې د شخص تحصيلي سويه د پوهنتون په سطحه ده او که ټيټه يوازې چې زده کړه وکړای شي. د تدريسي پروسې په بهير کې هر ډول سستي له

هرکس سره د دې سبب کېږي، چې هغه کس دې له حزبي دايرې څخه بهر شي، آن که هغه په حزب پورې هم تړلی وي، دا د حزب جوړښت ته د صدمې رسېدو سبب کېږي. په دې مرحله کې دا ډېره مهمه ده چې حزب له هېڅ ډول تفاعل سره لاس او ګرېوان نه وي، ترڅو له ډلې څخه مهربانه او با ثقافته حزبي اشخاص و نه لري. له همدې امله دا يوازې يوه تدريسي مرحله ده او بس.

د حزب او ښوونځي تر منځ د تدريس په اړه د توپيرونو موندنه د دې لامل کېږي چې حزبي فرهنګ د ښوونځي د فرهنګ بڼه غوره نه کړي، ترڅو د حزب فعاليت له منځه لاړ نه شي. په دې ترتيب د حزب د شبابو (حزبي غړو) او د حزبي ثقافت د اکاډيميک کېدو تر منځ پياوړې پرده واچول شي او دا موضوع بايد په ډېرې پاملرنې سره وپېژندل شي، چې د د امت په ژوند کې د حزبي ثقافت موخه د فکري قيادت لپاره د مفاهيمو بدلون دی. هغه څوک چې حزبي ثقافت حمل کوي بايد د هغه اکاډيميکي لوري ته هڅه ونه کړي او هغه څوک چې په اکاډيميکي معلوماتو پسې ګرځي نو بايد حزب ته نه بلکې ښوونځی ته مراجعه وکړي. د ثقافت د اکاډميک کېدو له امله د عمل کيفيت له منځه ځي او د حزب خوځښت دويمې ته ورو کوي.

١٣. دويمه مرحله له امت سره له تفاعل څخه عبارت ده، چې ستونزې په کې شاملې دي، دويمه مرحله ډېره حساسه ده، د هغې کاميابي د حزبي جوړښت په صحيح والي باندې دلالت کوي او ناکامي په دې مرحله کې په دې باندې دلالت کوي چې په حزبي جوړښت کې کومه نيمګړتيا شتون لري چې هغه بايد اصلاح شي. ځکه چې دا مرحله په مخکينۍ مرحله باندې ولاړه ده، په لومړۍ مرحله کې برياليتوب د دويمې د برياليتوب لپاره حتمي دی.

خو يوازې ثقافتي برياليتوب په لومړۍ مرحله کې د دويمې لپاره بس نه دی. په لومړۍ مرحله کې برياليتوب بايد خلکو ته ښکاره شي او دوی بايد په دې پوه شي چې دعوت روان دی او د حزب غړي دعوت کوي، سره له دې د حزب غړو ته دا اړينه

ده چې په حلقو کې د ثقافت د بدلون پر مهال ټولنيزه روحيه او په هغه ټولنه کې چې اوسېږي د ټکر او د ټولنې د بدلون لپاره کوښښونه په ځان کې پياوړي او تمرين کړي. دا ډله ييزه طريقه دويمې ته د خوځښت پر مهال هم بايد شتون ولري، چې له امت سره د تفاعل په مرحله کې له دوی سره مرسته کوي.

۱۴. حزبي غړي نه شي کولای چې د ثقافت له څخه د تفاعل ته وړاندې لاړ شي، ترڅو چې د ثقافت له پلوه يې پوره رشد نه وي کړی، هغه هم فرهنګي رشد، چې ده ته اسلامي شخصيت ورکړي، په داسې شان سره چې د دوی عقليه له نفسيې سره همغږې شي. د الله ﷻ پيغمبر ﷺ فرمايي:

« لا يُؤمِنُ أحَدُكُم حَتَى يَكُونَ هَوَاهُ تَبعاً لِمَا جِئتُ بِهِ »

*"له تاسو څخه به هېڅوک مومن نه وي، ترڅو چې د دوی د نفس غوښتنې د هغه څه چې ما له ځانه سره راوړي دي تابع نه شي."*

په ثقافت کې له رسېدلو پرته، د حزب غړي نه شي کولای چې دويمې ته ورسېږي، له همدې امله امت بايد په دې پوه شي چې دا د اسلامي دعوت لېږدوونکي دي. د هغه ټوليز چلند د هغه په وجود کې د حلقو په بهير او له ټولنې سره د اړيکې پر مهال بايد و روزل شي، ترڅو له هغه څخه هر ډول تمايل چې ځان څنګ ته کړي لرې شي، څنګ ته کېدل هغه مخلوط دی چې له بې زړه توب او مايوسۍ څخه جوړ شوی دی، چې بايد د افرادو او ټولنې له منځه يې جرړې و ايستل شي.

۱۵. حزب بايد په طبيعي ډول د ثقافت له څخه د تفاعل په لوري حرکت وکړي. که وغواړي چې د لومړۍ له پياوړيتوب څخه مخکې دويمې ته ولاړ شي، وړتيا به يې ونه لري. د ثقافتي په بهير کې حزب د پيل له ټکي څخه تېرېږي. د ثقافت د دغې په بهير کې حزبي غړي د ايډيولوژۍ خاوندان کېږي او ټولنه په ښکاره توګه د دعوت او ايډيولوژۍ حضور ته په پام کولو هڅوي. يوازې چې يو ځل افراد د ايډيولوژۍ خاوندان شي او ټولنه د دعوت شتون احساس کړي، حزب د

پیل له ټکي څخه تېرېږي او د انطلاق د ټکي په لور خوځېږي. د انطلاق ټکي ته د حزب د تګ لپاره باید امت مخاطب شي. مخکې له دې چې حزب بریالی شي، حزب باید بېلابېل کوښښونه وکړي. حزب خپل پیغام باید د متمرکز شوي ثقافت په واسطه په حلقو کې، د خلکو ډله ییز ثقافت په هر ځای کې چې امکان ولري، د استعماري پلانونو روښانه کول او د امت د ګټو ټاکل، امت ته رسوي.

هر کله چې حزب په دغه څلورو دندو کې بریالی شو، هغه مهال د امت د مخاطب کولو لپاره د انطلاق د ټکي په لور طبیعي حرکت کوي. د حزب دغه طبیعي پرمختګ له لومړۍ (ثقافت) څخه دویمې (تفاعل) ته بیایي. سره د دې دغه طبیعي پرمختګ له امت سره د حزب تفاعل له ځان سره لري چې په صحیح وخت او طبیعي بڼه رامنځ ته کېږي.

۱۶. د حزب دا تفاعل له امت سره یو اړین امر دی، چې حزب په خپله دنده کې بریالی کوي. د حزب غړي باید له امت سره تفاعل وکړي، ځکه چې دوی د امت له مرستې پرته هېڅ کار په یوازېتوب نه شي ترسره کولای، بې له دې چې خپل قوت او شمېر په نظر کې ونیسي، دوی نه شي کولای چې امت له ځان سره د مرستې لپاره وهڅوي او امت له دوی سره مرسته نه کوي، ترڅو چې په دغه تفاعل کې بریالي نه شي. تفاعل د دې معنا نه لري چې د حزب غړي دې یو زیات شمېر کسان تر ځان تاو کړي، بلکې له تفاعل څخه موخه دا ده، چې امت د حزب ایډیولوژي ومني، چې د ایډیولوژۍ اصل اسلام دی.

دغه ایډیولوژي مخکې له مخکې د امت په کلتور او تاریخي میراث کې شتون لري. که چیرې د امت دا ډول احساسات د یوې فکرې په لوري وده وکړي یوه خاصه ډله رامنځ ته کېږي چې له هغوی څخه حزب جوړېږي، د دغه احساساتو بنسټ دا دی چې؛ افکار له اعمالو سره یو ځای د یوه خاص هدف لپاره رهبري شي، چې دواړه د ایډیولوژۍ واقعي بیانوونکي دي. له دې پلوه ایډیولوژي–اسلام–د امت

داخلي احساسات دي او حزب د دغه احساساتو بيانوونکی دی. هرکله چې حزب په خپل بيان کې ښکاره، په خپله ژبه کې فصيح او په خپل بيان کې صادق وي، امت په بيړه ايډيولوژي قبلوي او له حزب سره تفاعل کوي. په پايله کې ټول امت د حزب په ډول مطرح کېږي، ممتازه او ټاکل شوې ډله د خوځښت رهبري د حزبي جوړښت په واسطه په غاړه اخلي. د دغه خوځښت په واسطه چې د امت رهبري په غاړه لري، دريمې ته ځي. دا مرحله وروسته د قدرت له لاسته راوړلو څخه د ايډيولوژۍ تطبيق له ځان سره لري. د قدرت په واسطه د ايډيولوژۍ تنفيذ د فکرې د تنفيذ لپاره يوازنۍ لاره ده چې د ايډيولوژۍ يوه برخه ده.

سره له دې چې د تفاعل په مرحله کې ګڼې ستونزې او موانع شتون لري، دا يو اړين امر دی چې د هغو په اړه بايد مور پوه وو او د هغه طبيعت بايد وپېژنو، ترڅو چې په دغه ستونزو د برلاسۍ وړتيا ولرو. مخنيوونکي عوامل ډېر دي، چې مهم يې په لاندې ډول دي:

أ. د ايډيولوژۍ او هغه نظام تر منځ توپير چې په ټولنه کې پلی کېږي

د حزب ايډيولوژي د ټولنې د غالب نظام په وړاندې يو نوی نظام دی. دا نوی نظام له شته نظام سره چې حاکمه طبقه يې په ټولنه کې عملي کوي، مخالفت لري. له دې امله دا طبقه نوې ايډيولوژي د ځان لپاره يو تهديد بولي، په ناچارۍ سره ورسره مخ کېږي او د بېلابېلو وسايلو په واسطه لکه: پروپاګند، ځورول، آزار، جسمي ځورونې او نورو لارو په واسطه د دعوت کوونکو په وړاندې جنګېږي. له دې پلوه د دعوت د لېږدوونکو په واسطه له امت سره د تفاعل په مرحله کې دا يو اړين امر دی چې له هر هغه وسيلې څخه چې امکان ولري، د دوی له ضرر څخه ځان وژغوري او د دعوت په صحيح شرح کولو سره له غولوونکو پروپاګندونو سره مقابله وکړي او هر ډول ستونزې بايد په دغه لاره کې تحمل کړي.

ب. د ثقافت اختلاف

له بېلابېلو افکارو سره سره، په ټولنه کې د امت تر منځ بېلابېل ثقافتونه شتون لري، په داسې حال کې چې د واحدو احساساتو درلودونکي دي. بېلابېل ثقافتونه په ځانګړي ډول استعماري ثقافت د امت له دغه احساساتو سره په ټکر کې دی. په داسې حال کې چې د ایډیولوژۍ ثقافت (اسلامي ثقافت) د امت د واقعي احساساتو څرګندوونکی دی. که هرڅو هم د ټولنې عامه نظر، په مدرسو کې، ثقافتي منهج او نور علمي ثقافتي او سیاسي نظریات د پردیو له ثقافت سره سم په کار اچول شوي دي. له دهمدې امله د یوه حزب لپاره دا اړینه ده، چې د نورو د ثقافتونو او افکارو په وړاندې وجنګېږي، ترڅو د امت واقعي احساسات او شعور را څرګند شي او په پایله کې امت د حزب لور ته رهبري کړي.

کله چې حزب د خپلو افکارو او ثقافت په واسطه په امت کې له نورو ثقافتونو سره ټکر کوي، باید له بې ځایه استدلالونو څخه مخنیوی وشي. د حزب غړي باید د دوی د کاږه خط په وړاندې نېغه لیکه رسم کړي، ترڅو یې له بې ځایه استدلالونو څخه مخنیوی کړی وي، هغه څه چې د ځان غوښتنې او حقیقت ته د رسېدو پر لاره د ستونزو لامل کېږي، په بدل کې یې باید د حزب افکار تشریح شي، د دوی د افکارو خطا او د دوی د لاسته راوړنو خطر باید ښکاره شي.

په پایله کې امت د خطا له پلوه حزبي افکارو ته پام کوي. حتی هغه کسان چې خطا افکار او د پردیو ثقافت لېږدوي، که مخلص، پوه او پاملرونکی هم وي، له هغې لارې هغه وخت راګرځي چې د پردیو د ثقافت خطا ورته معلومه شي او دا د حزب له ستونزمنو دندو څخه ده. په هغه ځایونو کې چې د پردیو ثقافت نفوذ کړی دی له خلکو سره تفاعل د هغه ځای په پرتله چې لږ نفوذ یې کړی ستونزمن دی. له دې امله حزب باید له ټولنې څخه عام او تام معلومات ولري، ترڅو له هغو سره تفاعل وکړي او خپل مسیر په مناسب ډول وټاکي.

ج. د وفادارو افرادو شتون

هغه وفا لرونکي کسان چې په اوسني حالت کې د پردیو د ثقافت او ناپوهۍ په واسطه مصلحت پالونکي شوي او دوه ډوله دي، لومړی ډول اوسنی حالت مني او دغه حال ته د یوه نه بدلېدونکي حالت په څېر تسلیمېږي، ځکه چې دوی اوسنی حالت د خپلې فکري سرچینې په ډول منلی او له همدې نظام څخه د دوی ستونزې حل کېږي. په دوی باندې د غالب کېدو لپاره ژورو بحثونو ته اړتیا شته، چې له هغو وروسته به دوی درک کړي چې اوسنی حالت د خپل فکر موضوع وګڼي، ترڅوله مبدا سره سم بدلون په کې راولي. په پایله کې به دوی دا امکانات ولري چې ځانونه له اوسنیو افکارو څخه خلاص کړي.

دویم ډول ظلامیین دي، هغه کسان چې نه غواړي خپلې سترګې خلاصې کړي او په رڼا کې ژوند وکړي، ځکه چې دوی په دې عادت کړی چې په تیاره، ابتذال او سطحي اوسېدو کې ژوند وکړي. سره د دې دوی د جسمي ټمبلۍ او فکري ناروغۍ په رنځ اخته دي او له زړو لارو سره یو ځای شوي دي، چې د دوی نیکونه ورته وفاداره وو. دوی واقعي مصلحت پالونکي دي، ځکه چې له اوسني حالت سره یې طبیعت ورته دی او افکار یې راکد او بې خوځښته دي. په همدې ترتیب دا ډله ډېر مداومت ته اړتیا لري، د دغه اشخاصو لپاره ډېر کوښښ او د مفاهیمو بدلون او تدریس ته اړتیا ده، چې مفاهیم یې تصحیح شي.

د.  د دعوت په لاره کې بل خنډ د خلکو تړون له خپلو مصلحتونو سره

انسانان د دوی د طبیعت له مخې کله چې له ایډیولوژۍ سره تړاو ولري د خپل ژوند د مصلحت په غم کې هم وي. دا هغه وخت پیښېږي چې د چا شخصي مصلحت له دعوت سره ټکر وکړي او یا که څوک وغواړي چې دا دواړه یو له بل سره همغږي کړي. پر دغه ستونزو باندې د برلاسي کېدو لپاره داسې کسانو ته اړتیا ده چې ایډیولوژي یې داسې منلې وي چې حزب او دعوت یې د پام او فکر په مرکز کې قرار ولري او شخصي مصلحت د هغه په شاوخواوو څرخېږي. دعوت کوونکو ته

جایزه نه ده چې داسې کار او وظیفه ترسره کړي چې له دعوت سره متناقض، مانع او یا هم د دعوت د هېرېدو لامل شي. د بېلګې په توګه د هغه کارونو سرته رسول چې له مبدا سره په ټکر کې وي او یا هم د داسې وظیفې اخیستل چې په هغه کې دومره بوخت شي چې د دعوت وخت پیدا نه کړي. په دې ترتیب سره دوی دعوت داسې مرکزي ټکي ته بیایي چې شخصي مصلحت یې د هغه په شاوخوا کې وي.

ه. د ژوند د اړتیاوو قرباني کول

لکه د اسلام او دعوت د حمل لپاره د مال قربانول او یا هم د تجارت له لاسه ورکول. په دغه ستونزو باندې د برلاسي کېدو لپاره باید په یاد ولرو چې الله ﷻ له مومنانو څخه د جنت په بدل کې ژوند او مال اخیستی. دا یادونه باید بسنه وکړي او ټاکنه باید اشخاصو ته ورکړل شي، بې له دې چې د دغه شیانو قربانولو ته اړ شي. رسول ﷺ عبدالله ابن جحش رضي الله عنه ته په یوه لیک کې چې د مکې او طایف په منځ کې د نخلې په سیمه کې د قریشو د احوال لپاره موظف کړی وو لیکي:

«وَ لاَ تُکرِ هَنَّ احَدَاً مِّن اصحَابکَ عَلَی المَسیر مَعَکَ وامِضَ لأمرِی فِیمَن تَبعَکَ»

*"له اصحابو څخه هېڅوک مه مجبوروه، ترڅو له تاسره ملتیا وکړي، هغه څوک چې ستا د امر اطاعت کوي له هغوی سره وړاندې لاړ شه."*

و. په ټولنه کې مدني اختلاف

د ښار محیط له کلي سره توپیر لري او دا دواړه چاپېریالونه بیا د کوچیانو له چاپېریال سره فرق لري،چې په پایله کې د کلیو په پرتله د ښار مادي پرمختګ توپیر لري او دا دواړه بیا د کوچیانو له خیمو سره توپیر لري. د دې ډول توپیرونو له امله چې د ژوند مادي اړخ دی، حزب ته کېدای شي وړاندیز وشي چې په هر مکان کې حزبي تدریس او یا ایډیولوژیکي لارښوونې توپیر ومومي. دا یو ډېر خطرناک استدلال دی، ځکه ټول امت سره له دې چې د ښاري اوسېدو توپیر به ولري خو دوی یو امت دی چې عین

احساسات او ایډیولوژي لري. دعوت باید د ښاریانو، کلیوالو او کوچیانو لپاره یو ډول وي او همدا راز یې د تفاعل کړنې هم باید سره یو شان وي.

۱۷. د تفاعل په مرحله کې کېدای شي حزب له دوو خطرونو سره مخ شي:

لومړی ایډیولوژیک خطر (د ایډیولوژۍ لپاره خطر) او دویم خطر د ځان غوښتنې او ځان لوی بللو. ایډیولوژیک خطر امکان لري چې د ټولنې د بهیرونو د ښکاره کېدو او د ځواب ویلو د میل پر مهال د غوښتنو او د وروسته پاتې افکارو مغلوبېدل د حزبي افکارو په واسطه، ښکاره کېږي. دا ډول خطر هغه وخت رامنځ ته کېږي، چې حزب له ټولنې سره تفاعل وکړي او له خلکو سره د یوې مراودې غوښتونکی شي ترڅو له دوی سره تفاعل وکړي او لارښوونه یې وشي، دا مهال حزب په ایډیولوژۍ سمبال شوی دی، په داسې حال کې چې خلک له زړو افکارو سره، په متناقض ډول یا د تېرو نسلونو د افسانوي داستانونو په څېر عکس العمل وښیي، د پردیو خطرناک افکار، باالاخره د استعماري او کفري افکارو په تقلید سره مجهز وي.کله چې حزب له عامو خلکو سره تفاعل کوي، دوی ته د حزب نظریات او افکار وړاندې کوي او کوښښ کوي چې د دوی مفاهیم اصلاح کړي او اسلامي عقیده یې ویښه شي، په پایله کې د امت په سطحه لارې چارې او صحیح معیارونه رامنځ ته کېږي او دا دعوت او تبلیغاتو ته اړتیا لري، په داسې شان امت د هغه پر بنسټ چې عبارت له ایډیولوژۍ څخه ده په خپله شاوخوا راټولوي، په پایله کې په ایډیولوژۍ باندې د امت باور پیاوړی کوي او په دوی کې د حزبي مفاهیمو په اړه ډاډ پیدا کوي او د حزب لپاره باید د احترام او قدردانۍ بنسټ کېږدي او امت د حزب تر لارښوونې لاندې عمل ته تیار کړي. هغه مهال دا د حزب دنده ده، چې د خپلو غړو شمېر ډېر کړي کوم چې امت وربانديې باور لري، په داسې شان سره چې دوی د امت رهبري په عام او تام ډول د نظامي جنرالانو په څېر په خپله غاړه واخلي. هرکله چې حزب د تفاعل په دغه مرحله

کې بریالی شي، اخوا امت بې له دې چې د خپل مسیر څخه ووځي او یا هم منحرف شي، د هغه موخې په لور چې ایډیولوژۍ ټاکلې رهبري کوي.

که حزب عام خلک د تفاعل د دورې له بشپړېدو وړاندې د امت په منځ کې رهبري کړي، د خلکو رهبري به له ایډیولوژۍ سره سمون و نه لري. بلکې حزب به د دې په تشخیص بوخت وي چې د احساساتو په راپورته کولو او د دروغینو تصویرونو په واسطه چې دوی به فکر کوي د امت عروج یې په خپل لاس کې نیولی دی، د امت په فکر کې څه شی په جوش او خروش کې دي. آن چې په دې قضیه کې خلک خپل مخکیني احساسات لکه وطن پرستي، ملت پالنه او کاهني روحانیت له ځانه نه دي لیرې کړي او د انسان د ټولنیز اوسېدو شعور دوی لا هڅوي.

په دې ډول مبتذل رواجونه، فرقه پالنه، مذهب پالنه او پخواني افکار لکه استقلال، آزادي، فاسد تعصبونه لکه؛ نژاد پالنه او قبیله پالنه د دویم ځل لپاره په خلکو کې راپورته کېږي. چې په پایله کې د حزب او خلکو تر منځ تناقض رامنځ ته کېږي او خلک د داسې شیزونو غوښتنه کوي، چې له ایډیولوژۍ سره سمون نه لري او دوی په جسورانه توګه د لنډ مهاله پلانونو د پلي کولو غوښتونکي کېږي، چې د امت لپاره مضر دي او د خپلو غوښتنو په ترلاسه کولو کې د دوی غضب ډېرېږي. په دې صورت کې حزب باید په دوو سختو ټاکنو کې تصمیم ونیسي؛ یا باید د دوی له احساساتي کړنو سره مقابله وکړي، په پایله کې به ټول هغه څه له منځه لاړ شي چې حزب په ټولنه کې د تسلط او رهبرۍ لپاره کړي ؤ او یا هم دا چې له ایډیولوژۍ څخه منحرف شي او سستي وکړي.

البته دا دواړه د حزب لپاره لوی خطر ګڼل کېږي. که خلک او ایډیولوژي په تضاد کې شي، دا د حزب د غړو لپاره یو اړین کار دی چې یوازې په ایډیولوژۍ باندې ټینګې منګولې ولګوي. آن که د حزب غړي د امت د قهرېدو سبب هم شي، ځکه؛ چې منفي احساسات موقتي وي. په ایډیولوژۍ باندې د منګولو ټینګول د دویم ځل

لپاره امت ته د ډاډ سبب کېږي. له دې امله حزب باید همېش محتاط وي ترڅو فعالیت یې له ایډیولوژۍ سره مخالف واقع نه شي او له اصلي خط السیر څخه لږ هم منحرف نه شي.

ایډیولوژي د حزب د ژوند او د هغه د بقا ضامنه ده، د دې لپاره چې د دا ډول خطرناکو حالاتو څخه مو مخنیوی کړی وي، حزب باید د امت په منځ کې د ایډیولوژۍ د ترویج په هڅه کې وي، ترڅو د حزب له وضع شوو افکارو او مفاهیمو څخه ملاتړ وکړي او د حزبي مفاهیمو او افکارو د لوړولو لپاره باید په امت کې زیار وباسي. هغه مهال به دا ټول آسانه وي چې د ثقافت په مرحله کې د تدریس پر مهال، د استعماري پلانونو ښکارول، له امت او د هغه د مصالحې څخه په همېشني ډول ملاتړ او په دې برخه کې له بشپړ دقت څخه کار اخیستل شوی وي او حزب یو ځای له ایډیولوژۍ سره مخلوط شي، سره د دې همېش باید حزبي افکار او مفاهیم و ارزول شي، ترڅو هغه د تل لپاره واضح وي او د دغه موخې د تر لاسه کولو لپاره باید هر ډول زیار و ایستل شي، بې له دې چې په دې فکر وکړو چې موږ څومره د دغه زحمتونو د ګاللو توان لرو.

دویم خطر چې حزب ورسره مخ کېږي عبارت دی له اشراف پالنې څخه، چې امکان لري د امت تر منځ نه بلکې د حزب د غړو تر منځ را پیدا شي. کله چې حزب د امت او یا د امت د ډېرې برخې استازیتوب کوي د یوه لوړ مقام درلودونکي، لپاره د محترم او نورو رتبو تحسین ورکول کېږي، کېدای شي چې په دې مقام کې مقرریدل د ده د تکبر لامل شي. له دې پلوه حزب فکر کوي چې په امت باندې دوی ښه والی لري او د دوی دنده لارښوونه او رهبري ده، په داسې حال کې چې د امت دنده دا ده چې رهبري شي. دا د دې لامل کېږي چې دوی امت ته په سپکه سترګه وګوري، که داسې وشي، امت فکر کوي، چې حزب په یوه بله طبقه پورې تړاو لري، چې له امت سره توپیر لري او حزب هم همدارنګه ځان د یوې بلې طبقې په څېرویني.

دا د حزب د له منځه تللو د پیل نښې دي. ځکه چې دا ډول چلند د حزب اندېښنه د عامو خلکو په پرتله کموي او د دوی په منځ کې هم د حزب باور کمېږي. په پایله کې امت له حزب څخه په مخ اړولو پیل کوي، یوازې یو ځل چې امت له حزب څخه مخ واړوي، د حزب د بربادۍ لامل کېږي، لومړني حالت ته بېرته راګرځېدل او یا هم د لومړني باور تر لاسه کول او د امت ډاډ یوه ډېره ستونزمنه چاره ده. له دې امله باید د حزب غړي په ټولنه کې د عادي کسانو په څېر وي، چې امت ته له خدمت څخه پرته باید بل فکر ونه لري. او په دې باید پوه شي چې د حزب غړي امت ته له خدمت کولو پرته بله دنده نه لري، ځکه چې دا دوی ته د مصونیت ضمانت ورکوي او له دوی سره نه یوازې د امت د ملاتړ په برخه کې مرسته کوي بلکې د درېیمې پړ مهال کله چې قدرت په لاس کې واخلي او ایډیولوژي پلې کوي، هم مرسته کوي. د حاکم په څېر د خلکو په سترګو کې د امت د خدمت کوونکو په څېر ښکارېږي او دا د ایډیولوژۍ په پلي کولو کې له دوی سره مرسته کوي او ډېرې اسانتیاوې ورته برابروي.

۱۸. درېیمه مرحله (حاکمیت ته د رسېدو مرحله):

حزب د امت او د طلب النصره د کارونو له امله قدرت ته رسېږي او ایډیولوژي په بشپړ ډول پلې کوي، چې دې ته یې انقلابي طریقه ویل شوې ده. دا طریقه په حکومت کې د قدرت شاملول ردوي، بلکې ټولې واګې په خپل لاس کې نیسي او له هغو څخه د ایډیولوژۍ په بشپړ تطبیق کې کار اخلي، حزب، اسلامي ایډیولوژي په جامع ډول جاري کوي او د تدریج طریقه نه قبلوي، بې له دې چې په ټولنه کې موجودو شرایطو ته پام وکړي.

یو ځل چې دولت ایډیولوژي په بشپړ او جامع ډول پلې کړي، باید د اسلامي دعوت په لېږدونه پیل وکړي، له دې امله دولت ته ښایي په خپله بودیجه کې ځانګړې

پانګه وټاکي. دولت د نړیوالو اړیکو په واسطه د حزب او یا دولت په وسیله له حالاتو سره په سمون د دعوت د چارو سرپرستي کوي.

سره د دې چې حزب قدرت کسب کړی، حزب خپلو چارو ته د یوه حزب په څېر دوام ورکوي، همدا راز حزبي دستګاه بدلون نه مومي، آن که حزبي غړي د دولتي مقامونو خاوندان وي او یا نه وي. حکم د لومړي قدم په توګه د ایډیولوژۍ د پلي کولو لپاره په دولت او ټوله نړۍ کې مطرح کېږي.

دا له هغو مرحلو څخه شمېرل کېږي، چې حزب یې د خپل ژوند په بهیر کې د فکرې په لېږدولو کې په عملي ډول طی کوي. په بل عبارت؛ ژوندانه ته د ایډیولوژۍ لېږدول چې اسلامي ژوند له سره پیل شي، د ټولنې د پرمختګ او نړۍ ته د دعوت لېږدول یې له برخو څخه ګڼل کېږي. دا مهال حزب خپله اصلي دنده چې د هغې لپاره تاسیس شوی وو په غاړه اخلي، له دې پلوه حزب د اسلامي دولت د اقامت حقیقي ضامن، له هغه څخه ملاتړ، د اسلام پلي کول، په ښه او صحیح ډول د هغه تطبیق، د پلي کولو استمرار او ټولې نړۍ ته د اسلام لېږدول دي. ځکه چې د دولت له تاسیس څخه حزب د مراقب (څارونکي او ساتونکي)، د دولت حساب کوونکی او له دولت سره د خبرو اترو رهبري او له دې سره جوخت اسلامي دعوت اسلامي هېوادونو او وروسته نورې نړۍ ته لېږدوي.

پای

د امت خپروني

کابل افغانستان

www.ht-afghanistan.org
info@ht-afghanistan.org